شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارگان

لومړی کال | خوارلسمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د وری(حمل) د میاشتی (۱۳) | د ۱۹۹۶ میلادی کال دمارچ (۳۱) | د ۱٤۱٦ق کال ذی القعدة (۱۳)

آیا علماء و غیر علماء برابرند؟

خداوند می فرماید:
«بگو آیا آنانی که می دانند و آنانی که نمی دانند برابر اند؟ جز این نیست که خردمندان پند پذیر میشوند.» (زمر:

علماء و بزرگان احترام شوند

از ابوموسی رضی الله عنه روایت است که: پیامبر (صلی الله علیه وسلم) فرمود: از جمله، تعظیم خداوند تعالی اینست که بر پیرمرد ومسلمان وحامل قرآن که در آن غلو نکند، و تارك العمل به آنهم نباشد، و قدرتمندی که در میان رعیت خود عدل کند احترام شود.
(ریاض الصالحین)

په کندهار کی د هیواد د علماء کرامو تاریخی غونډه پیل شوه

که علماء کرام فکری او نظری یووالی ولری، هیڅ قوت به یی مقابله ونه کړای شی

ملا محمد عمر «مجاهد»

د طالبانو تحریك ددی لپاره پیل شو چی د افغانستان دخلکو بدبختی پای ته ورسوی

ملا محمد ربانی

په کندهار کی د هیواد د علماء کرامو تاریخی غونډه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د حمل په لسمه نیټه د شنبی په ورځ پیل شوه.
د غونډی په پیل کی د عظیم الشان قرآن څو مبارك آیتونه ولوستل شول او وروسته د طالبانو د اسلامی تحریك مشر، محترم مجاهد ملا محمد عمر آخند د عظیم الشان قرآن ددی آیاتونو پر بنسټ(د الله په رسی ټول منگولی ولگوی، تفرق او اختلاف مه کوی) غونډی ته په خطاب کی وویل: تر له تفرق څخه مراد ذهني تفرق او نظری تفرق دی چی هغه د عملی تفرق منشأ او منبع ده، که علماء فکری او نظری یووالی ولری نو د نړی هیڅ قوت به یی مقابله و نه کړی. مجاهد ملا محمد عمر آخند له علماؤ نه وغوښتل چی د تل لپاره متحد او یو موقف و اوسی ځکه د یوه هیواد پرمختگ او ترقی په یووالی او اتحاد کی نغښتی ده، که موږ اتحاد او یووالی له لاسه ورکړ، نو د تل لپاره به د نورو غلامان یو، زه یو ځل بیا په ټینگار سره وایم چی تاسو علماء کرام په ملك کی د وجود درگونو مثال لری، نو باید دا هیواد متحد وساتی، موږ په اوس وخت او په راتلونکی (حلورم مخ)

ربانی در سفر خود به تاجکستان و ترکمنستان ثابت نمود که اندیوال روسها میباشد

ربانی نقش ببرك كارمل را بازی میکند

ملا عبدالجلیل آخند

خبرنگار ما خبر میدهد که: ملا عبدالجلیل آخند معاون ارتباط خارجه تحریك اسلامی طالبان گفتند: ائتلاف و اتحاد با اداره، غیر شرعی و غیر قانونی ربانی، به تقویه، آن اداره مردود انجامیده و به توطئه های روس، هند و ایران علیه ملت ما جامه عمل می پوشاند، که هیچ مسلمانی و افغانی به چنین عمل شنیع و پست اقدام نخواهد کرد. (صفحه٤٠)

ملا محمد الله د هرات د امنیت قوماندان وویل:

په هرات کی امنیت د ډاډ وړ دی

د شریعت اونیزی خبریال له کندهار نه خبر راکوی چی د ۱۳۷۵ لمریز هجری کال د وری په پنځمه نیټه د هرات ولایت د امنیتی چارو قوماندان ملا محمد الله اخوند د طالبانو د اسلامی تحریك محترم مشر حضور ته د امارت دفتر ته ورغی او د هرات (٤مخ)

د طالبانو د اسلامی تحریك له محترم مشر د لویی پکتیا د مشرانو له هیئت سره وکتل

هیئت د مولوی جلال الدین حقاني د مرستی یو پیغام د تحریك محترم مشر ته وړاندی کړ

هیئت ژمنه وکړه چی د طالبانو د اسلامی تحریك سره د سر او مال قربانی ورکولو ته تیار یو

د وری نهمه: دشریعت خبریال خبر راکوی چه د خوست او پکتیا ولایتونو یو شمیر علماء کرامو د مولوی صاحب حبیب الله منگل په مشری په کندهار کی د اسلامی تحریك د محترم مشر او د اسلام ستر خادم مجاهد ملامحمد عمر آخند سره د امارت په دفتر کی کتنه وکړه. د محترم مولوی جلال الدین حقانی استاذی مولوی حاجی حبیب الله منگل او ورسره ملگرو یی هر یوه محترم مولوی عبدالودود، محترم مولوی خیرالدین، محترم مولوي ظفرخان، محترم مولوي سید وسیم، (ځلورم مخ)

د کابل د اداری الوتکو په چهارآسیاب او شاوخوا کلیو بمباری وکړه او ډیر مسلمانان یی شهیدان او ژوبل کړل

د طالبانو د چهارآسیاب له سنگرونو نه هیڅ شاهدان د شریعت اونیزی خبریال ته خبر ورکړ چی د سه شنبی په ورځ د ۱۳۷۵ لمریز کال د وری په ٦ نیټه د کابل د اداری الوتکو د چهار آسیاب په کلیو او کورونو بمباری وکړی او ډیر بی گناه مسلمانان، ټورسری او واړه ماشومان یی ووژل، ټپی او شهیدان یی کړل، کورونه یی ورته وران کړل. مگر د طالبانو سنگرونه بیخی محفوظ دی او لله الحمد هیڅ مرگ او ژوبله نه ده شوی، د B.B.C په رپوټ کی چی ویل شوی ؤ پنځوس تنه طالبان خدای د نه کړی- شهیدان او ژوبل دی هغه رپوټ د دښمن له پلوه په دروغو ورکړ شوی ؤ.

په کندهار کی لویه چاودنه، نه ده شوی

د شریعت اونیزی خبریال له کندهار نه خبر راکوی چی د بی بی سی راډیو هغه خپور کړی رپوټ چی ویل یی په کندهار کی د وسلو او مهماتو په ډیپو کی یوه لویه چاودنه شوی ده، دروغ دی او د بدنیتو او بد خواهانو خلکو له پلوه ورکړ شوی دی؛ چاودنه د مهماتو د انتقال په وخت کی د څینو مرمیو د تصادم په نتیجه کی وشوه چی ډیره کمه وه. لله الحمد نه مؤظفینو ته او نه مهماتو ته چندانی تاوان رسیدلی دی.

د طالبانو د اسلامی تحریك اتل قوماندان ملا بورجان د «شریعت» سره په مرکه کی:

افغانان عقل او اسلامیت لری، په ناموس یی خوابدیزی خامخا به له طالبانو سره یوځای د افغانستان د ژغورنی لپاره کار کوی

ملابورجان اخوند چی د طالبانو د اسلامی تحریك غړی او تل یی د جهاد په لومړی کرښه کی سنگرنیولی دی په تیرو ورځوکی یی د شریعت اونیزی له خبریال سره مرکه کړې ده چی اوس یی درنو لوستونکوته وړاندی کوو:

۱- پوښتنه: محترم او مجاهد ورور ملابورجان اخوندا مهربانی وکړی تر هر څه د مخه خپل نوم، زده کړه، دجهاد سابقه اوله تحریك سره خپل پیوستون ووایاست:

ځواب: زما محضه نوم ملا امین الله او په حاجی ملابورجان آخند مشهوریم، د دینی علم په زده کړی پسی می نژدی اوه (۷) کاله سفرونه کړی دی، دکندهار په دیروجوماتونوکی اوسیدلی یم، د نورمحمد تره کی له وخت نه می جهاد پیل کړی دی ان تر هغو پوری چی د نجیب حکومت رانسکورشو، د جهاد په دوران کی د ټولو تنظیمونو او قوماندانانو په اتفاق سره زه د کندهار د جهادی جنگ عمومی قوماندان ټاکلی شوی وم، هیڅ زما په هکله بی اعتمادی او اختلاف نه دی کړی، ما هم په ټول اخلاص سره وظیفه سرته رسوله، (٤مخ)

په خوست کی د ترابی صاحب په مشری د مختلفو قومی مشرانو غونډه جوړه شوه

د غونډی برخه والو د طالبانو له اسلامی تحریك سره هر ډول ملاتړ په ډاگه کړ

د وری نهمه: د طالبانو د عالی شوری غړی ملا نورالدین ترابی د خوست ولایت ته تشریف وړی هلته د هغه په مشری د خوست ولایت د مختلفو قومی مشرانو په گډون یوه لویه غونډه جوړه شوه. په خوست ولایت کی د شریعت خبریال د خبر له مخی د خوست ولایت پدغه لویه غونډه کی د خوست ولایت د مشرانو، محترم ترابی صاحب، د ځدرانو د قوم مشرانو: حاجی عبدالرحمن ، (ځلورم مخ)

د طالبانو د اسلامی غورځنگ ویاند محترم ملا خیر الله له بی بی سی سره په مرکه کی:

د حکمتیار او ربانی ائتلاف د اسلامی اصولو په اساس ندی شوی

ملت باید له هغوی سره د تیرو څلورو کلونو د جگړو حساب وکړی

موږ هیڅکله په خپل ځنگ کی لوټمار، قطاع الطریق نشو منلای

د بی بی سی راډیو د حمل په اته نیټه پخپله مابنامنی خپرونه کی د طالبانو د اسلامی غورځنگ له ویاند محترم ملاخیرالله څخه پوښتنه وکړه چی: حکمتیار ویلی دی ځکه چه طالبانو زموږ سره له ائتلاف کولو ډډه وکړه موږ مجبوراً له ربانی سره ائتلاف ته اړ شوو پدی هکله تاسو څه وایاست؟ د طالبانو ویاند وویل: دحکمتیار صاحب له ملگرو سره ځینی خبری په کندهار او نورو ځایونو کی شوی وی، خو دا چه هغوی بعضی داسی غوښتنی لرلی · (٤مخ)

دغزني ولایت والی ملامحمد شفیق آخند له شریعت اونیزی سره په مرکه کی

په خلکو کی د طالبانو د اسلامی تحریك محبوبیت ډیر زیات ده په غزنی کی د امنیتی او نظامی وضع د گډوډی هیڅ خطر نشته

د مرکی په سرکي موږ د غزنی ولایت محترم والی صاحب څخه وغوښتل چی خپل ځان د شریعت اونیزی لوستونکو ته معرفی کړی، هغه په ځواب کی وویل: چی زما نوم ملامحمد شفیق اخند ده او د ارزگان ولایت د ترینکوټ اوسیدونکی دی، ما خپل تعلیم په دینی مدارسو کی کړی د فارغ التحصیلی مراحل (٤مخ)

د پکتیکا ولایت د گوملی ولسوالی فعاله شوه

د پکتیکا ولایت څخه د شریعت اونیزی خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷۵ لمریز هجری کال د وری په لومړی نیټه د گوملی د ولسوالی په مرکز کی یوه ستره (٤مخ)

د مسلمانی عقیده

دویم مخ

په اسلامی نړی کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

۲ مخ

د هند لاسوهنو ته یوه لنډه کتنه

(دویم مخ

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

ص۲

ملل متحد، ۱۹۹٦م را سال خاتمه، فقر و غربت نامیده است

(دویم مخ)

په افغانستان کی داسلام ځلانده تاریخ ته یوه لنډه کتنه

(دویم مخ)

د هرات مسلمان خلك د طالبانو د اسلامی تحریك سره هر ډول مرسته کوی

عبدالمنان نیازی

دوری نهمه: د شریعت خبریال خبر راکوی چی د هرات ولایت مرستیال ملا عبدالمنان نیازی او د نوموړی ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مولوي احمد جان احمدي له دوی سره د خوست او پکتیا ولایتونو یو شمیر علماء کرامو د اسلامی تحریك د محترم مشر مجاهد ملا محمد عمر آخند سره د امارت په دفتر کی وکتل. د خبرو په جریان کی محترم نیازی صاحب د هرات ولایت د وضع په هکله معلومات ورکړ او ویی ویل چی دلوی خدای جل جلاله په فضل او کرم د هرات ولایت وضع د بشپړ اطمینان او ډاډ وړ ده او د هرات مسلمان (ځلورم مخ)

ملا اسد الله «حنیفی» د (شریعت اونیزی) سره په مرکه کښی:

په لوگر او میدان ښار کښی وضع آرامه ده

د طالبانو تر منځ د جگړو خبرونه، بنیاد نه لری

دغه ډول په درواغو ولاړ خبرونه د کابل اداره خپروی

د طالبانو د اسلامی تحریك غړی ملااسدالله «حنیفی» چی پرون له لوگر او میدان ښار نه راستون شوی د (شریعت اونیزی) خبریال څخه د لوگر میدان ولایتونو د وضع په هکله مرکه کړی چی دادی لولی یی: حنیفی صاحب دخبریال ددی پوښتنی په ځواب کښی چی په لوگر او (٤مخ)

په سرینگر کی د کشمیر د آزادی د جبهی مشر شبیر «صدیقی» له ۲۲ تنه مجاهدینو سره دهندی نوځ له خوا په شهادت ورسول شو

سری نگر: (KPI) د کشمیر د آزادی د جبهی مشر شبیر «صدیقی» د خپلو مجاهدینو سره د حضرت بل په زیارت کی د هندی فوځیانو له خوا دمارچ د میاشتی له ٢٤ نه تر ۲٦ پوری محاصره وؤ چی وروسته دیری معاهدی له مخی نژدی کورته ولاړل. (٤مخ)

حکمتیار او ربانی کیدای شی اتحاد وکړي؟!

سرمقاله

په کندهار کی د علماء کرامو تاریخی غونډه

کندهار د افغانستان د نورو نامتو ښارونو په شان د افغانستان دولس د ستونځو او کړمو د اوارولو، د خواره، واره قام دراغونډولو، په یوه لار او سیخه لاره رواتولو په برخه کی په زړه پوری تاریخ ترسر تیرکړی دی؛
نن سبا چی یوځل بیا دافغانستان میړنی او مسلمان ولس له مرگونی سیاسی حالت سره مخ دی او هیڅوك یی د حل لاره نه شی میندلای په داسی موقع د افغانستان نامتو علمای کرام هلته په دومره گڼ شمیر کی راغونډ شوی دي چی په تاریخ کی به یی مثال د چا په یاد نه وی او که وی نو ډیر کم به وی؛
د افغانستان دردیدلی او کړیدلی مسلمانان مهاجرین، کونډی، یتیمان، یوری میندی او ورارې خویندی، ان تر دی چی دټولی نړی بادرده مسلمانان، دغو ټولو د کندهار په لوری سترگی او غوږونه کاږلی کړی دی چی گوندی یوه دخیر نښه ووینی او دخیر خبره واوری چی د دوی د ستونځو یو حل پکی راووزی؛
د افغانستان په دغو وروستیوله کړاوونونه ډکو کلونوکی د داخل او خارج په سطحه لویی لویی غونډی وشوی، تعهدونه وشول، امضاء گانی وشوی، انتخابونه وشول، بیعتونه او قسمونه وشول، په قرآن مجید او بخاری شریفه دقسم په عنوان لاسونه کیښودل شول، مؤقت حکومتونه جوړ شول، وزیران او رئیسان و ټاکل شول لنډه داچی څه کیدای شرای، وشول او مسلمانانو هڅې هڅې امیدونه ورپوری وتړل مگر له بده مرغه داهرڅه په لږ وخت وروسته باد او اوبو یوړل، تالا به شول، مسلمانان به بیا په تش میدان هك حیران پاتی شول مگر هغه بیکاری بیرځو به چی د هیڅ گناه او وبال پروانه لری په بیرتونو لاس واهه، شوندی به یی څټلی- ځکه میدان به دوی گټلی ؤ- تر او تازه به وو، بیعتونه، تعهدونه او قسمونه به یی د قرآن مجید او بخاری شریفی له احترام سره هرڅه تر ستونی تیر کړی وو او دغه کاروبه به یی دځان لپه سوبه، یری او فخر باله؛
له دغو ناخوالو وروسته بیا چی کله افغانستان د کمونیزم له مردارو منگولو څخه الله تعالی د شهیدانوکرامو او مخلصو مجاهدینو په برکت وژغوره، بیابی خپل منځی جنگونوته لاس واچاوه او په ناحقه وینویی داستانونه ولیکل چی تر نه پوری او بیا ترما شاء الله تعالی پوری به - خدای دی نه کړی- روان وی؛ ځکه چی هغه د چوکی عاشقان اوس بیا د اوږدو جنگونو او ورانیو لپاره ائتلافونه کوی، نوی صفونه جوړوی او نوی تباه کوونکی نظامی پلانونه تر غوږ او غوړنی لاندې لری.
ددغو ټولو ناروا او په کیدلو او اوریدلو سره د افغانستان او ټولی نړی مسلمانان یوی داسی عامی او ژوری مایوسی لاندی کړی دی چی نوریی نو په هیڅ شی باورنه راځی او هیڅ د خوشحالی زیری یی نه دی اوریدلی که چیری یی واوری زړونه یی نه منی؛
نن سبا چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکی خرقی په ښار کی نیکان راغونډ شوی دی ټول ددین علمای کرام دی، تر بل هر چاته له الله تعالی څخه دوی ډیر ویریږي، د الله تعالی‌له‌رضا پرته، د اسلام او مسلمانانو له خیر خواهی پرته د بل هیڅ مطلب او غرض والاخلك نه دی؛
نو ځکه دمایوسو مسلمانانو سترگی او غوږونه د دوی په لوری یو ځل بیا ورکاږه شول چی گوره! څه به وینو! او څه به واورو؟
د طالبانو د اسلامی تحریك مشرانو د پخوا په شان یوځل بیا په دغو مقدماتي غونډوکی او بیا په رسمی افتتاحیه وینااو کی په وار وار سره داخبره سپینه کړه او تاکید یی وکړ چی: دغه تحریك زموږ د روحانی پلرونو (علماوو کرامو) په لارسوونه او تصمیم راپورته شوی دی، د دوی تر مستقیمه لارښوونه لاندې یی تر اوسه پوری مقدس جهاد پر مخ بیولی دی، اوس یی بیا د علماوو کرامو راتلونکی راهنمایی او لارښوونی ته سترگی نیولی دی چی څرنگه (۲مخ)

شریعت

دامتیاز خاوند: د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک

دتاسیس کال: ۱۳۷٤ هـ ش

د لیکوال هیئت تر کتنې لاندې

مسؤول مدیر: الحاج مولوی احمدجان

ټیلفون: ۸٤۰۳۷۸

آدرس: په پیښورکښې دطالبانوداسلامي تحریک نمایندګي

ډیوی کښی به: په هیواد کښې (۳۰۰) افغانۍ

په پاکستان کښې (۳) کلداری

سرمقاله ...

شرعی، اصلاحی، دجهاد د نتائجو او شهیدانوکرامو د ارمانونو په ګټه قوماندو په راکړي؛ چې موږ یې ټکی په ټکی په عمل کی پلی کړو- انشاء الله تعالی.

اوس نو ټوله خبره علماوو کرامو ته پاته ده چې دوی به له الله تعالی نه دویری او خشیت په رڼاکی، د خپل پاك علم او پوهې په رڼا کی، د خپلو هغو ډېرو تجربو په رڼاکی چې د ژوند ساړه او تاوده یې ډېر لیدلی دي، ترخه یې ډېر څکلي دي، اوږی ژوړی یې ډېری په مزلو وهلی دی او کله کله یې د ظالمو ملحدانو او شبهی ملحدانو پنډی ځانی وهل او ټوکل هم زغملی دی، د شهیدانو کرامو ډېری خوری وری غوسی او د بدن ټوټې یې سره راغونډو کړی دي، دجنازي لمونځونه یې ورباندی کړی دي او تورو‌خاورو‌ته یې سپارلی دي، د ډېرو یتیمانو سپیره مخونه، له ارمانو ډکې سترګې یې لیدلی دي، د ډېرو یورو میندو، ورارو خویندو چیغی او ناری، د ډیرولرمانجنو کونډو تاوده اسویلی او ناری سوری یې اوریدلی دي؛

اوس به مسلمانان وګوری چې ددغو ټولو تجربو او پاخه عقل په رڼاکی، د الله تعالی او د هغه د مخلوق په وړاندې، د شهیدانو د ارمانونو په وړاندی خپل مسؤلیت څرنګه ادا کوی؟ او څرنګه قوماندې صادروی، ډېر ارمانونه لری ډېر څه یې د الله تعالی په لاره کی قربان کړی دي دافغانستان مسلمانان یې څه ډېر ځوریدلی دي، په اورونو پاخه شوی دي، نورنو په دنیا کی داسی مصیبت نشته چې په دوی به نازل شوی نه وي، داسی کړاوونه او ستونځې نشته چې دوی به زغملی نه وي؛ نور نو له الله تعالی نه پرته دادنیاپو په عالم کی بله هیڅ اسره نه لري، هیڅ دامید او مخ او پښوځای یې نشته؛ که لری یې نو هغه د طالبانو اسلامي تحریك دی چې د دوی ستونځې یې تر ډېره حده پوری راکمی کړی دي؛

او بله یوازینۍ اسره یې د علماوو کرامو دغه درنه او تاریخي غونډه ده او بس.

اوس به بیا وګوری چې ددغه غم ځپلي، مسلمان او ننګیالي ولس فال به څنګه راوخیږي او څه به راووزي؟

زموږ هیله دا ده چې علمای کرام به تر هر څه دمخه د الله تعالی د شریعت احکام دولس ګټې جهاد د مقصدونه د شهیدانو کرامو ارمانونه او ددغه مسلمان او ننګیالي ملت کړاوونه په پام کی ولري، ښه سوچ به وکړي، پوخ استدلال به وړاندی کړي، ډېری سلا مشوري به وکړي او تر هر څه نه زیات به ډېر د قرآن مجید ختمونه وکړي، د تهجد لمونځونه، د اشتخاری لمونځونه او دحاجت لمونځونه به وکړي او ډېری مراقبی به وکړي تر څو ارحم الراحمین خدای (جل جلاله) په خپل رحمت سره د خیر لارښوونه ورته وکړي او دهغې په رڼا کی دخیر فیصلی او قوماندې صادره کړي.

و من الله التوفیق

د مسلماني عقیده

دوولسمه برخه

غازي‌خیل

دریم دور:

د کشرانو اصحابانو او تابعینو رضی الله تعالی عنهم په‌زمانه‌کی تشریع(فقه):

۱- دسیاسی حالاتو انځور: دغه دور له هغه وخت نه پیل کیږي چې د حضرت علي رضی الله تعالی عنه له شهادت نه وروسته امام حسن رضی الله تعالی عنه مسلمانانو خلیفه وټاکه، څو میاشتي وروسته یې د وینو تویدلو نه د مخ نیوی په خاطر امام معاویه رضی الله تعالی عنه ته په (٤۱ هـ) کال کې خلافت وسپاره او اکثر مسلمانان په یوه امام پسې ودریدل نو ځکه دغه کال(عام الاجتماع) بلل شوی دی؛ مګر د مخالفت میکروبونه بیخي ورك نه وو، ډېرو خلکو امام معاویه رضی الله تعالی عنه ته دښمني په زړه کې لرله، او دغه دوه ډلي وې: لومړی‌ډله خوارج وو: د هغوی سیاست داسې ؤ چې د خاصي کورنۍ او یا خاص شخص باچایی یې نه غوښتله او داسې رأیه یې وه چې د مسلمانانو اکثریت چې هرڅوك د امامت لپاره غوره کړي، هغه دي امام وي؛ دوی له حضرت عثمان شهید رضی الله تعالی عنه څخه هم بیزاره او خوابدی وو ، ویل به یې : هغه د شیخینو رضی الله تعالی عنهما لاره پری ایښې وه، له حضرت علي شهید رضی الله تعالی عنه نه هم بیزاره او خوابدی وو ، ویل به یې: له حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه سره یې ولی سوله وکړه؟ حال دا چې دی شرعی خلیفه وو باید چې جنګ ته یې دوام ورکړی وای؛ او له حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه څخه هم بیزاره او خوا بدی وو، ویل به یې چې په امارت باندې یې په زور قبضه لګولې ده.

دوهمه د شیعه وو ډله وه، هغوی ویل امامت د حضرت علی رضی الله تعالی عنه او له ده نه وروسته دده د کورنۍ‌حق دی، هرچا چې دغه حق نه دی ورکړی او یا یې نه ورکوی هغه ظالم او جابر دی. امامت یې روا نه دی.

حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه سیاست له دوی سره یو څه نرم ؤ خو کله چې له ده نه وروسته دده زوی یزید په ٦۰ هـ کال د امارت واګې په لاس کې واخستلې نو اراو دوړ پیښ شو، په مدینه منوره کې امام حسین، عبدالله بن عمر، عبدالله بن الذبیر او نورو رضی الله تعالی عنهم بیعت نه ورکاوه او مکی مکرمی ته ولاړل، حضرت حسین رضی الله تعالی عنه له مکی مکرمی څخه د ٦۰ هـ کال په وروستیو ورځو کی د عراق د شیعه ګانو په غوښتنه د کوفی په لوری وخوځیده ترڅو هلته شرعي امامت قائم کړي خو له بده مرغه چې له کوفي ته بهر په کربلا کی د یزید د لښکرو له خوا د ٦۱هـ کال د محرم په لسمه نیټه د خپلی کورنۍ‌او ملګرو له ۷۲ کسانو سره شهید کړای شو رضی الله تعالی عنهم.

په همدغه ٦۱ هـ کال کی د مدینې منوری مسلمانانو دیزید معزولتیا وغوښتله او دده له امارت نه یې سر وغړاوه، یزید د مسلم بن عقبه په مشری‌دوولس زره لښکر ورواستاوه هغه مسلمانان یې د حری په واقعه کی سخت وځپل او د نبوی حرم سپکاوی یې وکړ، بیا دغه لښکر مخ په مکه مکرمه باندې د عبدالله بن الزبیر رضی الله تعالی عنهما د ایل کولو لپاره وخوځید مسلم بن عقبه په لاره کې مړ شو او په خپل ځای‌حصین بن نمیر سر لښکر ټاکلی ؤ د ٦٤ هـ کال د محرم په اخیر کی دغه لښکر مکی مکرمی ته ورسیده او عبدالله بن الزبیر رضی الله تعالی عنه هغلته د حجاز له خلکو نه د ځان لپاره بیعت اخستي ؤ، جګړه پیل شوه، د ٦٤ هـ کال محرم څو شپې، صفره او د ربیع الاول دوه دری ورځي تیرې وې چې د یزید د مرګ خبره راورسیده او جنګ بند شو؛

د یزید له مرګ نه وروسته په شام کی د یزید له زوی دوم معاویه سره بیعت وشو او په حجاز، عراق او ډېرو ځایونو کی د عبدالله بن الزبیر رضی الله تعالی عنهما لپاره بیعت مخ په وړاندې روان ؤ، څو معاویه د یزید زوی له امارت نه دری میاشتي وروسته لاس واخیست، له ده نه وروسته مروان بن الحکم په ٦٤ هـ کال کی په شام کی دځان لپاره بیعت واخیست، د ٦٥ هـ کال په رمضان کی مروان مړ شو او خپل زامن- عبدالملك وریسی بیا عبدالعزیز- یې دپاچاهي لپاره ولی عهدان وټاکل،

عبدالملك د علم او عقل څاوند او کلك سړی ؤ کار یې مخ په وړاندې روان ؤ په ټوله اسلامي نړۍ په قوت او تدبیر سره مسلط شو- مکی مکرمی ته یې د عبدالله بن الزبیر رضی الله تعالی عنهما د مقابلې لپاره په ۷۲ هـ کال دحجاج بن یوسف په مشری، لښکر واستاوه، مکه مکرمه یې محاصره کړه، جنګ سخت شو او د عبدالله ابن الزبیر رضی الله تعالی عنهما لښکریان تیت شول اخیر دی هم شهید کړای شو، رضی الله تعالی عنه

له دې وروسته ټوله اسلامي نړۍ په عبدالملك بن مروان را ټولټه شوه‌خو دغه د زور راغونډیدل و، شیعه یو څه غلي وو، حجاج د ظالمانو سر یې په عراق باندی ټاکلی ؤ، د عبدالرحمن بن محمد بن اشعث بغاوت یې د شام د لښکرو په زور مات کړ او خوارج یې له ډېرو سرغړونو وروسته په مهلب بن ابی صفره وټکول،

دغه اړ د وړ په مسلمانانو تیریده چې په ۸٦ هـ کال کښي عبدالملك بن مروان (رح) په حق ورسیده او زوی یې ولید بن عبدالملك (رح) په ځای کیناست دده وخت په مسلمانانو سوکالي او خوږ دوران راغی او د لمر خاته او لمر لویده خواته د نومیالیو قوماندانانو - قتیبه بن مسلم - محمد بن قاسم او موسی بن نصیر رحمهم الله) په لاس ډېر ځایونه فتح او د اسلام په قلمرو کی داخل شول، خو له بده مرغه دا خوږ دوران لنډ ؤ په ۹٦ هـ کال کي ولید وفات شو او ورور یې سلیمان بن عبدالملك په ځای کیناست، سلیمان دغه نومیالي قوماندانان ووژل یا بندیان کړل او ډېر مسلمانان ورته خوابدی شول په ۹۹ هـ کال کی سلیمان وفات شو او په ځای‌یې عمر بن عبدالعزیز رحمه الله چی د عبدالملك وراره او زوم ؤ کیناست دی ډېر صالح شخص او د خلافت راشده عدل ، مساوات او پرهیزګاری یې راژوندی کړه ده غوښتل چې خلافت د خاصي کورنۍ لپاره نه وي بلکې مسلمانان دی یې په خپله خوښه وټاکي. خو دغه ارمان یې ترسره نه شو، مرګ په بیړه ورته راغی او په ۱۰۱ هـ کال کی وفات شو رحمه الله علیه ؛ دده په وخت کی د بني العباسو لپاره پټه بلنه(دعوت) پیل شوه. له ده وروسته یزید بن عبدالملك(رح) په تخت کیناست هغه بیا په ۱۰۵ هـ کال کی وفات شو او په ځای دده ورور هشام بن عبدالملك (رح) په تخت کیناست، دی ښه نیك سړی او د بني امیه وو لسم خلیفه ؤ. ددغه دور توپیرونه په راتلونکی ګڼه کی ولولئ،

په تیرو دوو لسیزو، په افغانستان کی

د هند لاسوهنو ته یوه لنډه کتنه

شاه جهان سرداری

(څلورمه برخه)

> یادونه: «په تیره ګڼه کې مو په افغانستان کې دهندي واکمنو د سیاسي لاسوهنو په اړه د روسانو سره د هغوی ځینې لیدنی کتنی وڅیړلی او پدې هکله مو مختصر معلومات وړاندی کړل.
> پدې ګڼه کې به په افغانستان کې د یرغلګرو سرو قواوو او د وطن دکمونیستانو سره د هندوانو نظامي مرستي په لنډه توګه وڅیړو.»

په افغانستان باندې د روسي قوځونو د یرغل په موده کې د روسانو او هندوانو له ګډې نظامي همکارۍ هیڅوک منکر نه دی ځکه دا خبره ټولو نړیوالو ته لکه د لمر غوندې روښانه ده او د وخت نړیوال مطبوعات هم پرې پوره ګواه دي.

په افغانستان د روسانو تیری یوازې د روسانو کار نه وو، بلکه ټول کمونیست ملکونه او د وارسا د تړون اعضاء دولتونه په حقې کې په یو ډول او بل ډول ملوث وو. مګر ددغو هیوادونو د مداخلو ترمنځ فرق موجود و ، یعنې له هغوی څخه ځینې داسې ملکونه وو چې د مداخلې او د سرو لښکرو سره د مرستې نسبت یې هر اړخیزه بڼه لرله او د ځینو نورو مداخله یې په ځینې اړخونو کې موجود وو.

هند د هغه ملکونو په ډله کې وه چې د روسانو سره یې هر اړخیزه مرسته کوله. هندي واکمنو په افغانستان د یرغلګرو روسانو د تیری لوی نظامي ملاتړ کړی، هغه ماینونه چې زموږ د بې شمیره هیوادوالو د شهادت یا ټپي کیدو سبب ګرځیدل، د هغې لویه برخه د هندوانو له خوا تهیه او ایښودل کیدل چې ترننه پورې زموږ د بې ګناه ولس د ستونزو او کړاوونو ستره وسیله ده.

همدا راز هندوانو په د سرو روسانو سره د جنګي پلانونو په ترتیبولو کې هم مرسته کوله او روسانو به خپل ټول هجومي عملیات د هندوانو د مشورو وروسته تر سره کول.

همدا ډول هندوانو به د روسي قوځونو سره ډېری هوایی مرستی کولی . ډېر وختونه به د روسی طیارو او پیلوټانو ترڅنګ، هندي طیارو او پیلوټانو هم زموږ د اتلو مجاهدینو سنګرونه او زموږ د بې وزلو وطنوالو کلي او کورونه د وحشیانه بمباری لاندې نیول.

کله چې روسي لښکرې په افغانستان کې ماتې شوې او شرمینده خپل وطن ته ستنې شوې نو د نجیب ګوډاګي حکومت په افغانستان کې یتیم پاتې شو خو زر وه چې هندوانو یې مرستې ته راودانګل او په دې لحاظ هندوان د روسانو وارثین وګرځیدل.

هند نجیب ته نظامي، فني پرسونل ورکړ او یا تجربه مشاورین یې ورولیږل. د افغانستان په نامه یوه عربي خپرونه د ۱۹۹۰. کال د مارچ د میاشتې په صادرې شوې نشریې کې لیکي:«د افغانستان څخه د روسانو له وتلو وروسته هند پدغه ملت کې خپل نفوذ له بل هر وخت څخه پیاوړی کړ، د نجیب د حکومت سره یې ډېرې نظامي مرستې وکړې، نظامي فني او ازمایل شوي پرسونل یې ورته برابر کړ، پوه او تجربه کار مشاورین یې ورکړل ، تربیه شوي پیلوټان یې ورواستول، د جنګي پلانونو ماهره طراحان یې ورولیږل، نژدې یو کال کېږي چې د هند یو لوی نظامي قوماندان سورین سن د خپلو ٦۱۰ کسه افرادو او نظامي پرسونل سره په کابل کې دی چه په هغوی کې پوه مشاورین، تجربه کار پیلوټان او ازمایل شوي نظامیان شامل دي.»

دغه نشریه لیکي:«هندي قوځیان د نجیب د عسکرو په څنګ کې د مجاهدینو سره په جګړو بوخت دي او ددغه ملک(هند) پیلوټان د مجاهدینو سنګرونه او منطقي بمباروي.»

دغه نشریه د هندوانو او نجیبیانو د همکارۍ اصلي وجه دا ښایي چه هند نه غواړي چه په افغانستان کې دې یو سپیڅلی اسلامي حکومت چه د افغان ولس په خوښه وی منځته راشي او هندي واکمن د مجاهدینو له حکومت څخه ډېر په تشویش کی دي، نو په هر قیمت چې وي هند زیار باسي چې په دغه هیواد کې د اسلامي حکومت د پلی کیدو مخنیوی وکړي.

هغه دلایل چې دغه نشریې د نجیب سره د هند د نظامي مرستې په اړه یاد کړي یو هم ورڅخه دا دی چې په ۱۹۸۹م او ۱۹۹۰ کلو کې(چه د افغانستان څخه د روسانو له وتلو وروسته موده ده) په ناڅاپي توګه د هند د نظامي لګښت بې ساري لوړوالی ښودلی او وایي په دغه کلونو کې د هند نظامي لګښت د تیرو وختونو په پرتله دری نیم واری زیات شوی دی، ځکه په ۱۹۸۰م او ۱۹۸۱ م کلونو کی د هند نظامي مصارف(۳۸٦۳۰) ملیونه روپۍ وې خو په ۱۹۸۹ م او ۱۹۹۰ م کلونو کی دغه مصارف(۱۳۰۰۰۰) ملیونو ته لوړ شول. دا خبره پخپله ددې ثبوت دی چې هندي واکمنو د خپلو څرګندونو سره سم د نجیب سره ډېرې نظامي مرستې کړې دي.

ټولو نړیوالو به دا فکر کاوه چه د روسانو له وتو سره سم به د افغانستان وضعه بدله شي او ددغه ملك واګې به د مجاهدینو په لاس کې ولویږي خو داسې ونشول ځکه هندوانو نجیب ته د مرستې لاس وغزاوه او وخت په وخت به یې پخپلو مرستو سره د کابل مړاوی حکومت راژوندی کاوه ترڅو چه نجیب پدې بریالي شو چه د خپل حکومت عمر یو څه وخت نور هم زیات کړي. دا چه هرڅه د خدای په قدرت کی دی پدی کی هیڅ شك نشته خو موږ وایو چه د نجیب د حکومت د اوږدولو لوی سبب د هندوانو مداخله وه او د هندوانو دغه مداخلو زموږ وطن د ډیرو ستونزو سره مل کړی و او مل کړی یې دی.

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

(قسمت دهم)

عبدالرحمن احمد هوتکی

اندرومی!

بعد از یونانیها رومیها به اریکه، قدرت رسیدند، درتنظیم وطن و مملکت، فرتوسعه، پادشاهی در صفات و استعداد های عسکری و نظامی از یونانیها برتری حاصل کردند، در دانش، فلسفه، ادب، شاعری و تمدن به یونان نرسیدند، در چیز های متذکره، شان و دبدبه یونان برهمه جهان و بر دلهای رومیان قائم جای گرفته بود، رومیها تا آنقدر در دوره عسکری و نظامی قرار داشتند طبعاً در مسایل فکری و ذهنی یونانیها را بزرگان خود میپنداشتند و گل چین فلسفه، دانش و افکار آنها را کردند.(لیکی) مینویسد:«که یونانیها فهم و دانش خود را تا صدها سال نگهداشتند، درحالیکه رومیها دردوران عسکر و نظامی خود بودند از ادبیات هیچ آگاهی نداشتند حتی که به زبان خود ترجمانی افکار خود را نمی توانستند نتیجه لازمی این پس مانی این بود که تمدن یونان را پذیرفته و در هرجنبه اش به آن محتاج باشند.

این اثر پذیری از تمدن یونان محدود در جنبه های دانش و علم نبوده حتی رسم و رواج زندگی، عادات، احساسات و برنامه های جوانب حیات رومیها تحت تاثیریونانیها قرار داشتند. رومیها بدون قید و شرط تقلید یونانیها را میکردند و به آن افتخار داشتند، گرچه رومیها روی فطرت حربی خود در خوی، عادات و خصوصیات از یونانیها جدا نبودند، بسیاری از جنبه های حیات میان اوشان یکسان بود. ملیت و قوم خواهی یونانیها در رومیها اثر گذاشته و در رگ رگ آنها جای گرفته بود، درمیان رومیها در قوم پرستی و وطن دوستی به اندازه یونانیها مبالغه و افراط دیده میشد، حتی در رومیها ارزش و حیثیت زور و قوت به درجه عبادت رسیده بود، در اوشان از معنویت و روحانیت اصیل هیچ نام و نشان نبود، بلکه مطلق یك طرز فکر و عمل مادی داشتند، اثر مذهب و دین در تمامی جوانب حیات فردی و اجتماعی آنها همچون غرب امروز، هیچ نوع سلطه و اقتدار نداشت، بلکه اثر مذهب و دین و ارزشهای معنوی به حیث یك رواج و ضمنه دراوشان باقی مانده بود. (لیکی) میگوید: در روم صد ها پهلوان و مرد جنگی پیدا شد اما یك زاهد تارك لدنیا عشقی و دینی پیدا نشد، به هر اندازه که مثالها و نمونه های ایثار و قربانی دیده میشود، آنهم از اثر مذهب خارج و بر بنای وطن دوستی متکی میباشد. یکی از مشخصات و خصوصیات بزرگ رومیها این بود که روح قدرت خواهی و استعمار منشی آنها بر مبنای خالص ماده پرستی متکی بود که این روش رومیها که برای اروپاییان امروزه به میراث رسیده است. زمام داران روم روی احساس حاد وطن خواهی و برتری نژادی خود(عصبیت) یك روش و فکر خاص داشتند(اوطان و سرزمینهای دیگرانرا تحت سلطه، خود در می آوردند و از آنها به نفع وطن ، اهالی خود استفاده میکردند.) و ازین راه از هیچ نوع ظلم، تجاوز، دریغ نمیکردند، بلکه آنرا حق طبیعی خود پنداشته و خود را مدنی ترین مردم روی زمین میدانستند، و غیر رومیها در نظر اوشان وحشی(بربری) بوده و حق استفاده از حقوق مدنی و کرامت بشری را برای آنها قایل نبودند، بلکه بر اوشان لازم بود که درخدمت امپراطوری روم قرار داشته باشند.

و غیر رومیها نسبت به رومیها به مثابه:

۱- حیوان برای سواری.

۲- یا کار شیری بود.

در قانون «جوسیتان رومی» آمده است:«بعضی رعایا که نسباً رومي نیستند، برای اوشان حقوق یك رومی حاصل نمیباشد، سیادت و پاداری تنها برای رومیها بوده و سایرین طبقه پی میباشند که بر اوشان لازم شده پاداری و سیادت»، غلامها نزد رومیها شخص پنداشته نشده بلکه متاعی مانند سایر امتعه بود.

آنچه ازعدالت و قضاوت رومی به شهرت رسیده است تنها در حق رومیها بوده نه درحق دیگران.

قبول مسیحیت ازطرف رومیها

این واقعه، تاریخی که هیچ مؤرخی از اهمیت آن انکار کرده نمی تواند در سال ۳۰۵ واقع گردید، قسطنطین که مذهب عیسویت را پذیرفته بود به اریکه پادشاهی روم تکیه زد و به این شکل عیسویت بر کیش بت پرستی رومیها غالب آمد، قسطنطین چون به کمك و فداکاری بیدریغ عیسویها به تخت بزرگترین پادشاهی جهان(روم) رسیده بود، خود را مرهون احسان آنها پنداشته و مناصب بزرگ دولتی را به عیسویها تفویض داشتند. چون مذهب و ملی گرایی تضاد مستقیم میان هم دارند که ارتقاء و حاکمیت یکی انحطاط و محکومیت دیگری را بار می آورد، و همچون پله های ترازو که گرنگی یکی آن سبکی دیگری را سبب میگردد و یا به عباره دیگر بلندی یکی از پائین شدن دیگری آنرا بار می آورد، همچنان قوت و ارتقاء مذهب، ضعف و انحطاط ملی گرایی را به میان می آورد، به عکس آن قوت و ارتقاء ملی گرایی، ضعف و انحطاط مذهب را باعث میشود. دیگر لازم دیده میشود که پیرامون مذهب عیسویت در اروپا و چگونگی سیر تاریخی آن که در منزل و نتیجه اخری میدانرا دلیلانه برای ملی گرایی باخت و خود برای ابد از صحنه سیاسی و اجتماعی خارج گردید مروری کوتاهی بنمائیم.

قبلاً گفتیم که جزبه وطن و ملیت دوستی ، افتخار ملی و جدی ، در نظر گرفتن تقسیمات و حدود جغرافیایی از خصوصیات فطری غربی است که در نسل غربی پی هم یك دیگر میرسد.

هرگاه مذهب عیسویت به اروپا رسید و بر اریکه قدرت تکیه زد گرچه بشکل اصلی و واقعی آن باقی نمانده بود، با آنهم خصوصیات مذاهب آسمانی و مشخصات رهنمود های حضرت عیسی(علیه الصلواة والسلام) در آن موجود بود، قادر گردید که بدون در نظر داشت جدائیهای نژادی، ملی ، کشوری و جغرافیایی، بر مبنای مذهب اقوام ثبت و پراگنده اروپایی را به رهنمای کلیسای رومی جمع و متحد [illegible] و از جهان عیسویت یك قامیل و نظام تشکیل دهد. احساسات قومی، ملیتی و... را به اخوت سرتاسری [illegible]، و تفرقهاییکه در نتیجه تعصبات وطنی و قومی به میان آمده بود، به دوستی [illegible] بدل گرداند.

اندازه و تأثیر این تحول ذهنی و اجتماعی را که مذهب عیسویت سبب گردید، از سخنان دانشمندان اروپا امثال(ترتولین) درك کرده میتوانیم که میگوید:«ما یك جمهوریت را می شناسیم که آن همه جهان است.» و دانشمند دیگری(اریجن) میگوید:«ما یك کشور را می شناسیم که اساس آن از کلمه خدا گرفته شده است.

اما این تحول و دیگرگونی به حال خود باقی نماند، مذهب عیسویت تدریجاً به انحرافات شدیدی مواجه گردید که در نتیجه به سقوط کلی مواجه شد.

درمسیحیت، بت پرستی راه پیدا کرد:

زمام داری سلطنت روم در حقیقت برای مذهب عیسویت یك واقعه خیلی بدی بود، رومیهای بت پرست و خود عیسویها که از نزدیکی و معاشرت با بت پرستان رومی متأثر شده بودند، دین حضرت عیسی(ع) را بشکل دیگری گشتاندند، مظاهر شرك و بت پرستی در دین عیسوی راه پیدا کرد، مزیت و حیثیت آسمانی دین عیسویت را از بین برد، ناموس داران و محافظین جدیدی دین عیسوی به شمول قسطنطین که [illegible] مذهب عیسویت داخل شده بودند، مذهب در آنها رسوخ کامل نکرده بود تا تمام عقاید و مظاهر شرك و بت پرستی را از مغز و فکر آنها شستشو نموده باشد، بلکه در حقیقت و باطن همان مشرکان بودند که سابق بودند، به این شکل عیسویها یك سلطنت بزرگ را بدست آوردند در عوض بزرگترین سرمایه، مذهب را از دست دادند، که در میدان نبرد پیروز و در میدان مقابله با مذاهب به شکست سختی و فاجعه آوری مواجه گردیدند.

عیسویت درآغوش رهبانیت سقوط کرد:

مذهب عیسویت که آلوده و آغشته با بت پرستی و زنده گی مادی شده بود و روح اصلی و الهی مذهب مسیحیت راازدست داده بود، قادر به این نبود که عادات و اخلاق منحط و افراطی ماده پرستی و خوشگذرانی رومیها را اصلاح وبطرف فضایل اخلاقی سوق نماید، یك روح پاك را در زندگی آنها ایجاد نماید، بلکه در این کشمکش مذهب عیسویت فرار را بر قرار ترجیح داده و از زندگی اجتماعی گوشه گیر شد و رهبانیت (از زندگی و جهان گوشه گیری) را به میان آورد که درحق تمدن بشری از حیوانیت و ماده پرستی رومیهای بت پرست کرده زیاده تر وبال روحي بود، حکایتها و قصه های تکان دهنده از تعذیبهاي روحی و کناره جویی راهبان ازعیش ونوش دنیوی که برخود هموار میکردند به جای مانده است.

رهبانیت در روش افراطی و غلو آمیز ماده پرستی چیزی کمی نیاورد و اصلاح که مطابق فطرت سالم وصحیح بشری باشد و یا روحیه، اصلی دین آسمانی مطابق باشد در آنها نیامد.

مسیحیت تحریف شده با در پیش گرفتن رهبانیت نتوانست که تمدن و اخلاق بشری را از سقوط در وادي ضلالت و هلاکت نجات بدهد، همان بود که دوعکس العمل آن حرکت(گناه و آزادی) به میان آمد که این هردو حرکت و روش (حرکت گناه و آزادی و حرکت زهد رهبانیت) شانه به شانه هم در راه افتاد، رهبانیت دراطراف و کناره ها بشریت را تهدید میکرد و حرکت گناه و آزادي در شهر ها و مراکز به قوت و جرئت خود مردم را به وادی هلاکت تیله میکرد و در عین وقت آزادی فکری و جزبه قومیت روی کاشتگی میرفت.

عیش پرستی اربابان کلیسا:

روش راهبانه مسیحیت که مخالف همه جانبه بی فطرت صحیح و سالم بود مدت خواسته هاي فطری بشری را خاموش نگهداشته بود، با گذشت زمانی چند مراکز مذهبی و مردم را همان عیش پرستی و معایب اخلاقی به خود پیچید که تحریك رهبانیت به علیه آن شروع شده بود.

عیش پرستی و پستانی اخلاقی و خوشگذرانی تا حدي اربابان کلیسا را به خود پیچید که از گروهای خاص عیاش سرمایداران پیشقدم شدند، تا اینك حکومت مجبور گردید که بر مراسم مذهبی اربابان کلیسا که وسیله، عیش پرستی، جرم (ص۳)

معاصرافغانستان

ځموږه ګران هیواد افغانستان چې د زړورو او په اسلام مینو اتلانو کور دی او خلکو یې تل د دیني عالمانو په فتوی او پیروی‌ړه کفر او استعمار په خلاف د اسلامي جهاد او قربانیو میدان ته وردانګلي دي، د تاریخ په اوږدو کې یې له هر استعمار سره د غرۍ وهلې دي، هغه یې له سختې ماتې سره مخامخ کړي دي. ان تر دې چې استعماري ځواکونه یې په استعماري بڼه او ځیره د نړۍ له نقشې څخه محوه کړي دي، دا که د نولسمې پیړۍ نړیوال انګریزي استعمار وو او یا خو د شلمې پیړۍ سور روسی استعمار ده، دواړه یې د تاریخ کیسې او افساني ګرځولي دي.

خو له بده مرغه د دواړو تاریخي جهادونو او جګړو د ګټلو نه وروسته سیاسي قدرت د استعمار د ګوډاګیانو ځان ښوونکو او له اسلامي جهاد سره د غیر مخلصو عناصرو په لاسو کې لویدلی دی، په هیواد کې یې د مسلمانانو د اسلامي جهاد د هیلو او آرزوګانو سره سم اسلامي نظام نه دي پلی کړی او د خپل قدرت د بقا او ساتلو د پاره یې د استعماري ځواکونو او دښمن د خوشحاله کولو د پاره سیکولر او غیر اسلامي اداری ته ترجیح ورکړي ده.

امان الله خان د اتاترك په لاره:

وروسته له دې چې د امان الله خان پلار امیرحبیب الله خان په مارچ ۱۹۱۹م(۱۲۹۸ هـ ش) کی ووژل شو. امان الله خان د افغانستان د پاچا په توګه قدرت ترلاسه کړ او د اپریل په دیارلسمه ۱۹۱۹م (۱۲۹۸ ش) کال کې یې د آزاد او خپلواکه افغانستان اعلان وکړ، له دې سره سم په هیواد کې د انګریزانو په خلاف اسلامي جهاد پیل شو چې د زیاترو جبهاتو مشري د دین عالمانو په لاس کې وه، انګریزانو د افغانانو په خلاف مقاومت و نکړای شو او بالاخره د دسمبر په اته، ۱۹۲۱م (۱۳۰۰ش) کال، د برتانیی امپراطوری هم د افغانستان آزادی او خپلواکي په رسمیت وپیژندله.

د افغانستان د مسلمان او مجاهد ولس هیله د خپل ګران او غازي پاچا څخه دا وه چې

د سیکولیریزم خطر ته پام کوی!

په اسلامی نړۍ کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

شپږمه برخه

په افغانستان کې به یو مضبوط اسلامي حکومت مینځ ته راشي، څو د اسلامي نړۍ د پاره د عثماني خلافت د ړنګیدو نه وروسته یوه متکی او مرکزیت رامینځ ته شي او په هیواد کې دولتي نظام د اسلامي شریعت سره سم د خلافت په اصولو کې تشکیل شي.

خو امان الله خان د یو شمیر سیکولر عناصرو دغلطو مشورو تر اغیزو لاندې راغی، غوښتل یې چې په اسلامي هیواد کې غربي دیموکراسي او لیبرالیزم(Liberalism) په عمل کې پلی کړي، عبدالجلیل وجدي د خپل کتاب«په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون» په ۱۰۵ مخ کې لیکي:«د افغانستان د پاچاهی په تخت د امان الله د کیناستلو سره سم په افغانستان کې د نویو اجتماعي تحولاتو او سیاسی نهضتونو څپې راپورسېرې شوې. هغه وخت د دیموکراسی، ملت غوښتنی، اسلامي اتحاد پالنی، خپلواکی‌او سوسیالیزم د پاره د افکارو [illegible] راښکاره شوی. سراج الاخبار د ملیت غوښتنی په ژبه په افغانستان کې نوی فکرونه خپرول، امان الله خان غوښتل چې په هیواد کې نوی اصلاحات پیل کړي،دده لویه هڅه دا وه چې افغاني فطری [illegible] د عصر له دیموکراسی‌او لیبرالیزم سره غاړه غړۍ کړي.

ددغه هدف د پاره ده دری لویې جرګې راوبللی.»

د امان الله د سیکولر اتجاهاتو برعکس د هیواد خلکو، دیني عالمانو او دسیمې مسلمانانو غوښتل امان الله خان افغانستان ته د اسلامي خلافت ویاړ وربه برخه کړي. عبدالجلیل وجدي د کتاب په ۱۰۷ مخ کې لیکي:«د ترکیې انقلاب له خوا د عثماني خلافت د منحل کیدو نه وروسته د سیمې د مسلمانانو توجه افغانستان او شخصاً امان الله خان ته ګرځیدلی وه، داسی یوه آرزو موجوده وه چې امان الله خان باید د «اسلامي خلافت» لقب او ویاړ ترلاسه کړي. دغسې یوه موضوع د ۱۳۰۳ ش کال د سرطان په اته ویشتمه ورځ هغه وخت چې لویې جرګې له ترکیې سره د افغانستان معاهده تر بحث لاندې نیولې وه، را پورسېره شوه.

د کامی مولوی صاحب په دې غونډه کې وویل چې نوره معاهده سمه ده، خو دا چې ترکیې«خلافت» پخپله لغوه کړي دی نو په اسلامي دنیا کی افغانستان یواځې هغه ملك دی چې باید د خلافت مسئله حل او فصل کړي، نو باید ددې مسئلې څخه د هند، سند، مصر، الجزایر، تونس، مراکش، عربي هیواد، شام، عراق او نورو اسلامي هیوادونو څخه افغانستان ته جید علماء راوبلل شي ترڅو دغه موضوع فیصله کړي.

امان الله خان د کامی د مولوی صاحب نظر او پیشنهاد خوښ کړ، دومره یې وویل چې په دې برخه کې به خپل نظر د نورو د نظریاتو د څرګندیدو نه وروسته ښکاره کړي...

دی مفکوری په غونډه کې زور ونیو او د جرګې غړو غوښتل چې افغانستان باید د اسلامي نړۍ عالمان راوبولي او د خلافت موضوع وریاندی فیصله کړي، بالاخره لویې جرګې همداسې یو تصویب وکړ.»

عبدالجلیل وجدي د کتاب په ۱۰۹ مخ کی لیکي:«ظاهراً د امان الله خان د اسلامي خلافت څخه پرازی انګریزان سخت په تشویش کی وو... د امان الله خان آسیایی رهبری روسانو هم نشوای زغملای په تیره داسی یو حقیقت چې دهندوستان د مسلمانانو نه علاوه په ترکستان کی هم خلکو د جمعې د لمانځه په خطبو کی د «امیرالمؤمنین امیرامان الله غازی» نوم اخیسته، حتی انور پاشاه هم د امیر امان الله خان د خلافت د تحریك له حامیانو څخه وو.»

په داسی وخت کی چې د ۱۳۰۳ش کال لویې جرګی یو شمیر نظام نامی (اساسی قانون) منظور کړ چی د هیواد په جنوب کی د امان الله خان د ځینو پروګرامونو په خلاف مخالفتونه راڅرګند شول چی وسله واله بڼه یې غوره کړې وه. امان الله خان د خپلو سیکولر دیموکراتو ملګرو په مشوره اروپا ته د اروپایی کلتور او تمدن د مطالعی او څیړنې د پاره سفر وکړ چی شپږ میاشتی او لس ورځی یې په مختلفو اروپایي هیوادونو کی تیری کړی او هیواد یې د سیکولریستانو د ولي یو تن محمد ولی ته د سلطنت د نیابت په توګه سپارلی‌وو.

په ترکیه کی د امان الله د لیدنو په هکله عبدالجلیل وجدی د خپل کتاب په ۱۱۹ مخ کی لیکی:«امان الله خان د سفر په ترڅ کی د ترکیی له لومړني جمهور رئیس مصطفی کمال اتا ترك سره د یو ملاقات په ضمن کی له هغه سره په افغانستان کی د اصلاحاتو د عملی د چټکولو په باب سلاګانی او مشوری کړی وی. د اتاترك مشورو دی په افغانستان کی د جدی اقداماتو د پاره هڅولی وو. کله چی دی هیواد ته راغی د خارجه وزارت په یو محفل کی د ملی او سیاسی مسایلو په باب په یوه وینا کی یې وویل:« زه یو انقلابی پاچا یم نو زه به په خپل هیواد کی د اصلاحاتو د راوستلو د پاره انقلابی مبارزه وکړم» ده د حربیې د وزارت په یوه بله غونډه کی د ځوانو افسرانو په وړاندی وویل:«کوم انقلاب چی زه په دې ملك

(۳مخ)

ملل متحد ۱۹۹٦م را سال خاتمه فقر و غربت نامیده است

حق جو

منابع خبری در اوایل سال ۱۹۹٦م اعلان کردند که ملل متحد همین سال را سال خاتمه فقر و گرسنگی نامیده است، این نام گذاری اگر مصداق می یابد یانی ولی فقرای جهان را مژده و نوید خوش آیند است.

[illegible] معنای خاتمه فقر و بینوایی اینست که در روی زمین فقیری نماند و این کار نیك وعمل خیر تمام انسانها به نیکویی و دلگرمی و انتظار استقبال میکنند اما نمی توان یقین کرد که در روی زمین موسسه ملل متحد ویا کدام موسسه، دیگر غنی و دارای همه وسائل بتواند که مرض فقر و گرسنگی و چنگ این گرگ مفترس را از گلوی ناداران فقیر و بینوایان گرسنه ، کلی کشیده بتواند.

یگانه قوتی که این کار را کرده میتواند قوت خداوند غنی و رزاق جل جلاله است، ولی اوتعالی ساختار نظام عالم را بخاطر حکمتهای اشکار و پنهان طوری پی ریزی کرده که رزق بعضی از انسانها را فراوان و از بعض دیگر محدود و محدود تر گردانیده است.

در احادیث مبارك آمده است که خداوند تعالی فقر و فاقه را وقتی خاتمه می دهد که در نزدیکی قیامت سیدنا عیسی علیه الصلاة و السلام از آسمانها بحیث یك فرد امت پیغامبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرود آمده، دجال خنزیر را کشته و صلیب(سمبول نصرانیها) را شکستانده باشد، آن وقت است که معدنهای سیم و زر(نقره و طلا) از زیر آب و خاك ظهور میکند و هیچ فقیر و ناداری بر روی زمین وجود نخواهد داشت که صدقه و زکات سرمایه داران را بپذیرد.

بلی! اگر ملل متحد تصمیم دارد که تمام وسائل و امکانات موجود و آنچه بدست میرسد یعنی پروگرامهای دیگر فقط در کمك با فقر ، و بینوایان جهان به مصرف میرساند، این کار ممکن و معقول و مورد پسند است؛ اما چه طور خواهد توانست که این کار نیك را کرده بتواند؟ زیرا این موسسه، جهانی درمصارف عادی خود بر دول غنی و اعضای دائمی خود متکی است.

سرمنشی آن بطروس غالی داد میزند و از کسرد بودجه مصارف عادی این موسسه بارها به لهجه شکایت گفته است که دولت های عشر بخصوص امریکا از درك سهمیه پولی این موسسه مدیون اند؛ حتی که در یك اعلان دیگر اکثر اعضای شورای امنیت را به نسبت عدم تحویلی سهمیه پولی خویش از حق رأی دهی محروم والغود کرد.

دولت های عشر، بدون شبه در قدم اول بودجه های عادی و ترقیاتی خود در نظر میگیرد و پول اضافی از این اگر داشته باشند، برای توجه مصارف عادی و فوق العاده موسسه ملل متحد میفرستند، در بصورت اگر این موسسه جهانی مقداری محدود از پول صندوق فقرای جهان داشته باشد برای مصارف فوق العاده یعنی مصیبت زده گان طبیعی و سیاسی (زلزله زدگان، سیلاب و قحط زدگان، و آوارگان جنگ ها) کفایت نیکند، تا چه رسد بفقرا، و گرسنه گان.

بنظر ما راه نزدیك و بهتر برای حصول این مطلب که برای موسسه ملل متحد ممکن است اصلاح نظامهای اقتصادی و مالی جهانست، زیرا که فقر و گرسنگی از قرون متمادی دامن گیر جامعه بشریت بوده و ریشه های آن تا اعماق تاریخ کشیده شده است و برای معالجه آن راه ها و نظامهای زیاد و مختلفی بکار گرفته شده که بدون نظام مالی اسلام، هیچ یك از نظامهاي بشری بنفع فقرا و گرسنه گان بشریت منتهی نشده است.

آفت فقر و ناداری امروزی (عصر استفاده از انرژی ذره و تسخیر فضا و ساختن دماغهای برقی و...) اکثر انسان های روی زمین را رنج میدهد وآنها را به ناله و فغان در آورده است برای معالجه، آن به خود کشی(تحدید نسل) دست میزنند.

دو نظام مالی مایه افتخار شرق و غرب(کمونیزم و سرمایداری) و مسلط بر اکثریت جامعه، انسانها نه اینکه دوای درد گرسنگان نه شد بلکه ناداری و گرسنگی را بحد سرسام آور عمده و شیوع بخشیدند؛ زیرا که نظام (سرمایداری) ملکیت فرد را حق وی میداند – و این صحیح است– ولی نظام را طوری خود سر و لجام گسیخته واگذاشته است که همه وسایل تولید و عرضه به عرض جامعه در دست افرادی محدود و سنگدل گرد آمده و برای اشباع حرص و آز خود به تمام وسایل سود و قمار و احتکار پول همه افراد و ملت ها را از کف ناتوان آنها چیده و در انبار خانه هاي شخصي انباشته اند که مردم میانه حال را نیز فقیر میسازد تا چه رسد بفقرا و محتاجان! و یگانه ذریعه کفاف ناداران (دست مزد) را به نهایت قساوت و بی رحمی بمراتب پائین تر از حق عرق ریزی و کارمزد و ران تعین میکنند؛

در مقابل آن نظام شرق(نظام اشتراکی) که به نظام کارگری و کارگران نامیده اند و حق ملکیت فرد را لغو قرار داده – و این غیر صحیح و مضر به انتاج و تولید است– و بالای جوامع به نوك برچه و تفنگ در ده ها سال تحمیل کردند، فقط این قدر توانست که اغنیا و مردم میانه حال را فقیر ساخت و به تعداد فقرا و بی نوایان زیادت بخشید، ولی هیچ نتوانست که گرسنه گان و فقراء را به درجه، مردم میانه حال بالا برد تا چه رسد به درجه غنا و رفع احتیاج! سرمایه های همه مردم در دست افراد محدود بنام(دولت کارگران) گرد آمده و در عیاشی افراد دولتی و مسابقات تسلیحاتی و ایجاد مواد هلاکت انسانها بخرج میرسد.

آنچه را که موسسه ملل متحد میتواند بکند اصلاح نظام مالی و اقتصادی جهان است بطوریکه از یك طرف رعایت جوامع پس مانده و فقیر را به نسبت جوامع غنی و حتی جوامع روبه انکشاف رجحان داده باشند.

و از جانب دیگر ممالك غنی را وادار سازد تا نظامهای ملی و دولتی شان را نیز اصلاح و طوری عیار سازند که رعایت جهت ناداران به نسبت اغنیا مردم میانه حال راجح باشد.

اگر موسسه جهانی بطور عموم به اسلام و نظام زندگی سازان ایمان میداشت و اسلام را یك برنامه مکمل و متکفل زندگی مالی و اجتماعی انسانها میدانست شاید از بهبود های مالی تجربه شده این نظام استفاده میکرد، و اگر می کوشید که آن را در روی زمین رواج و نافذ سازد دوای درد و علاج رنجهای بیشمار، فقرای جهان میشد، انچنانکه یك وقتی دوای درد و رنج فقراء، و فاقه کشان شده بود؛ و آن زمانی بود که نظام اسلامی بمفهوم اصلی خود بر جامعه، بشری حکومت میکرد، آنگاه تمام فقر و فاقه در غرب ثروتمند امروز بوده نه در قلمرو اسلام اما اکنون که ناداری و گرسنگی در بعض جوامع اسلامی به نسبت دیگران بیشتر است علتش اینست که نظام با برکت و پرفیض مالی و اجتماعی اسلام کما حقه نافذ نیست.

باید که فقراء، و گرسنه گان و ناداران جهان در این تنگنای فقر و گرسنگی و رنجها به خداوند بی نیاز جل جلاله تضرع و زاری کنند که این نظام میمون ونیك فرجام و سیر کننده گرسنه گان و مداوای رنج و آلام همه دردمندان را هرچه زود تر بر جامعه، بشریت حاکم سازد.

خوک څنگه او خوک څنگه

ملا دُر محمد «گوهری»

خوگ وږی تږی فریادونه کوی
خوك له مرښته گناهونه کوی
خوك د بیگا، سبا ډوډی نه لری
خوك د کلونو انبارونه کوی
خوك بی کفنه لغړ گور ته درومی
خوك نوی نوی لباسونه کوی
چاته وریښمو باندی خوب نه ورځی
خوك په اغزیو کی خوبونه کوی
خوك لوړ قصرونه اوماڼی جوړوی
خوك بیا خیموته پیوندونه کوی
خوك له وران کوره شهیدان راباسی
خوك پری له پاسه ښارونه کوی
خوك ستگرونو کی ایره ایره شول
خوك یی په خون تجارتونه کوی
خوك یتیمان شول هیڅ اسره نه لری
خوك ظالمان دی پری ظلمونه کوی
خوك ستگرو کی تکلیفونه گالی
خوك امریکا کی خپل عیشونه کوی
خوك د زندان ترخی شیبی تیروی
خوك له خوښی نه اتڼونه کوی
خوك د باروتو په لمبو رانده شول
خوك د فلمونو هوسونه کوی
خوك شل او گوډ شول د جهاد سنگر کی
خوك په چکرو ځی نازونه کوی
خوك له نفاق ځنی خوندونه اخلی
خوك د یووالی ارمانونه کوی
خوك په وطن پسی رانده کاڼه شول
خوك یی د خرڅی تکلونه کوی
خوك ژوندانه د غلامی کی خوښ دی
خوك آزادی غواړی جنگونه کوی
خوك شپه او ورځ د عیش سندری وایی
خوك «گوهری» غوندی ویرونه کوی

د ادب ملغلری

چرا بر زندگی مور شادی؟
مسلمانی سلیمانی بکف آر
کند آسان مسلمان هرمحالی
سمندر را برواندر صدف آر

* * *

خیال کمتری از سر بیند از
تو خود این وقت آن ابن ولیدی
ترا با این تن آسانی چه کار است
تو در هر وقت غازی یا شهیدی

* * *

بدنیا هیچ کس زنده نماندی
اگر دیدی گلستان شهیدان
بجز از بار ها مردن درین راه
نباشد هیچ ارمان شهیدان

* * *

بسی بهتر بود گوشه نشینی
از و دل میشود چون طشت چینی
و لیکن چون عدو در مستی آمد
بود کفر ای جوان خلوت گزینی

* * *

شنیدم این سخن از عارفی من
مسلمان گرم خون وپرزجوش است
براي نفس خود هرگز نمیرد
برای دین کفن بالای دوش است

د جبر په ځواب کښی

ملااسدالله حنیفی

که می وهی که می ټوکی که می په دار ځیژوی
د حق آواز به لوړوم کراریدلی نه شم
که په ژوند ونی می له گوتو نه نو کونه باسی
د حق له لیکی بل پلو ته گرځیدلی نه شم
زه یو مؤمن یم حق پرست یم حق ویل به کوم
د ظالمانو له دباو لاندي راتللی نه شم
که سر په دار غرغره کیږم چوپ به نه شم خلکه!
د وخت د جبر استبداد کردی زغملي نه شم
ما د حسین په پله قدم ایښی په صدق ورورا
د یزیدی ښکیلاك په وړاندي ټیټیدلی نه شم
که د بلال په څیر می تن په سرو سکروټو وریت کړ
د حق له حد نه ملی متر تیریدلی نه شم
زه «حنیفی» به دغدار سترگی را اوباسمه
په دی باره کښی بی پروا پاته کیدلی نه شم

«البیرونیکی محمد اشرف خسروی»

د باغراناتو کمپ له لسکف نه

غوره خبری

چا چی د جنت امید وکړ هغه په نیکیو کښی تلوار وکړ.

څوك چی له جهنم څخه وډار شو، هغه خپل ناروا خواهشات پریښودل.

چا چی په مرگ باندی یقین وکړ هغه د دنیا له لذتونو څخه ډ:ډه وکړه.

په اسلامي نړۍ کې...

کی د هغه لیدل غواړي، که ضرورت راشی هغه به ستاسی د برچو په څوکه راولم.»

عبدالجلیل وجدی د یوه هندي مبارز عزیز هندي چی د امان الله خان دوست وو، د شخصی تأثراتو د یوه کتاب په حواله لیکی:«چی محمود خان ماته پخپله خوله وویلی دی چی امان الله خان د ښځو د مخ د لوڅولو د پاره د تبلیغ ته زیات په زور تکیه کول غوښتل، لکه چی «ه پخپله محمود خان ته وویلی و:«محمود خانه: توری خبری پریږده ماته مصطفی کمال مشوره راکړی ده چی داسی شیان د برچی په څوکه سرته رسیدلی شي، زه به خپل اصلاحات د برچی په څوکه سرته ورسوم.»

امان الله خان د خپل سفر د نتایجو د بیانولو او په هیواد کی د نویو پروگرامونو د عملی کولو د پاره په ۱۳۰۷ ش کال د وری د میاشتی په پنځمه نیټه درېیمه لویه جرگه راوغوښتله چی پر ولس سوو(۱۱۰۰) قایندگانو ، علماوو، ساداتو، مشایخو خانانو روشنفکرانو او یو شمیر ښځو په کی گډون کړی وو، د جرگی غړو ته د دولت له خوا د اروپایی لباس د اغوستلو امر شوی وو.

(نور بیا)

افغانستان» په ۱۲۳ مخ کی ده نی جرگی د قایندگانو د لباس په هکله لیکی:«درین جرگه، بزرگ که در پغمان دایر گردیده بود، برای وکلاء و قایندگان از طرف حکومت دریشي که عبارت از کرتی و پطلون سیاه، پیراهن سفید، نکتایی سیاه و کلاه شپوی سیاه(کلاه انگلیسی) بود، تهیه گردیده بود، امر شده بود که لباسهای فوق در روز های جرگه بپوشند.»

امان الله خان غوښتل د اتاترك په شانی په هیواد کی د ښځو د پردی نظام له منځه یوسی او ښځی لوڅ مخ بازارونو او کارونو ته راووځی، محمد علم فیض زاد دغه واقعه په خپل کتاب کی داسی لیکی:«امان الله خان بعد از یك سلسله بیانات در باره حجاب مطالبی بیان و اظهار کرد«یك زن در برقع حرکت میکند، شخص فکر میکند که او چگونه و چطور خواهد بود، نه، روی برهنه باشد، دل پاك باشد، هرکس براه خود میرود.» بعد از ملکه خواست تا نقابش را بردارد و در مقابل قایندگان جرگه حاضر شود، ملکه با روی برهنه در حضور قایندگان حاضر شد، با حضور ملکه بدون نقاب در جرگه، درمجلس هیجان زیادی حکمفرما شد، مردم تجدد پسند حضور ملکه را با کف زدنها بدرقه کردند.» فیض زاد د خپل کتاب په ۱۳۳ مخ کی لیکی:« در بیانیه [illegible] سوم خود درین کنفرانس شش صد نفری بار موضوع رفع حجاب زنان افغان که در لوی جرگه یك ماه پیش با ابراز احساسات تند قایندگان و شور و غوغای فراوان روبر گردیده بود ، حمله کرد. و اعلام داشت که در ظرف دو ماه چادری معموله، زنان که می پوشند از بین برداشته شود... او گفت نقاب در حقیقت از وجائب اسلامی نیست و بنا بر آن او خواست خانمش نقاب خود را بردارد و رو بجانب خانم خود کرد و گفت تا نقاب را از روی خود بردارد.ملکه تجویز شوهرش را پذیرفت که به کف زدنهای زنان خارجی و دیگران بدرقه گردید.» امان الله خان که له یوی خوا د ملت په اړوند د غربي دیموکراسی غوښتونکی وو او غوښتل یی اروپایی کلتور او تمدن د افغانستان په مسلمانو خلکو باندی ومنی، خو له بلی خوا د ځان په باب د دیموکراسی د روحیی په خلاف د پاچاهی د سلطی د ملکه کیدو او زوی د ولی عهدی کلك طرفدار وو.

عبدالجلیل وجدی د خپل کتاب په ۱۴۳ مخ کی لیکی:« امان الله خان غوښتل چی د امیر شیر علی خان په څیر خپل یو زوی(د ملکی ثریا زوی) د ولیعهد په توگه په جرگه باندی ومنی، نو ځکه ده وغوښتل چی خپله رسمی ملکه«ثریا» او د هغی زوی د جرگی غړو ته وروپیژنی نو بی ملکه راوغوښتله او د جرگی د غړیو په وړاندی بی د مخ نه نقاب پورته کړ، په افغانستان کی د حالاتو انقلاب همدغه حادثه وه.»

په افغانستان کښی داسلام ځلاند تاریخ ته یوه لنډه کتنه

دوهمه برخه

– نعماني –

وړاندی له دی نه چی په افغاني خراسان کښی د حضرت عبدالله بن عامر بن کریز(رض) نورفتوحات تشرح کړو دلته د دوو خبرو یادونه ضروري ده:

۱- په هغه وخت کښی چی د حضرت احنف بن قیس(رح)او د دریم یزدگرد تر منځ جنگ و په هغه وخت کښی د افغاني خراسان د ځینو سلطه جویانو خاندانو نه پرته بل هیڅ افغان د یزدگرد پلوی نه کوله.

خو کله چی په سنه ۳۱هـ کال په مرو رود کښی دریم یزدگرد په قتل ورسیده او ساساني فوځ په بشپړه توگه مات شو او افغاني پلویان بی هم تیت شول او اسلامي فوځ یو ځل بیا د پاتو سیمو په نیولو او دنیولو شوو سیمو په ښه تنظیم پیل وکړ نو په دغه وخت کښی چی څه مقاومتونه شوي دي هغه ټول دافغاني غیر اسلامي ځواکونو مقاومت و چی لږ وروسته به بی درته په لږ تفصیل ولیکو انشاء الله تعالی.

۲- حضرت احنف بن قیس(رح) له هرات څخه تر تخار او بلخ، مرو رود او مروشا جهان ټوله هغه سیمه ونیوله چی دتخار او دنیشاپور ترمنځ وه له دی نه مخکی بی په ۲۳ هـ - ٦٤۳ م خپل دوه یا تجربه او قهرمان قوماندانان عاصم بن عمروالتمیمی(رح) او عبدالله بن عمیر(رح) د سیستان (نیمروز) د فتح کولو لپاره استولی ؤ چی هغوی دواړو د نیمروز مرکز زرنج دقوی محاصری لاندی راوستی وو او بیایې په دی سوله وشوه چی دوی به اسلامي فوځ ته جزیه ورکوی پدغه وخت کښی چی دی دمرو رود له فتحی او د مفتوح علاقی له تنظیم څخه فارغ شو د دریم خلیفه حضرت سیدنا عثمان (رض) له خوا دی خپل پلرنی ټاټوبی (بصری) ته غوښتل شوی دی او دحضرت عثمان بن عفان (رض) له شهادت څخه وروسته څه وخت چی حضرت سیدنا علی کرم الله وجهه دارالخلافة کوفی ته انتقال کړه دی نی د خپل مشاوریه توگه وټاکه، د جمل په جنگ کښی گوښه ناست و ولی د صفین په جنگ کښی بی د حضرت سیدنا علی کرم الله وجهه پوره ملگرتیا کړی ده د ده (رح) د حضرت عمرفاروق(رض)، حضرت عثمان رضی الله او حضرت علی کرم الله وجهه، په ملگرتیا کښی خوږی او زړه پوری قیصی دی چی دلته بی د بحث د اوږدیدو په خاطر نه یادوو، دغه د اسلام لوی فاتح او قهرمان قوماندان د بصری د والی حضرت معصب بن زبیررضی الله تعالی عنه د ولایت په دورکښی په بصره کښی په سنه ٦۷هـ کال کښی وفات شوی دی او حضرت معصب بن زبیر رضی الله تعالی عنه ده د جنازی له ادا کولو وروسته څه وخت چی ده د جنازی سره روان و وویل: (ذهب الیوم الحزم و الرأی) نن عقل او تدبیر دواړه ولاړل او ترخاورولاندی شول.

د حضرت احنف بن قیس(رح) د شکل او صورت څخه د عبرت یو درس:

ننني ناپوهان وایی چی د طالبانو د اسلامي پاخون مشر ملامحمدعمر اخند په یوه سترگه معیوب او د شهرت خاوند نه دی نو دا څرنگه کیدای شی چی د دومره لوی ځواکمن نظامی قوت مشري وکړی؟

نو خامخا دلته نور لاسونه شته دی.

موږ دغو تش په نامه پوهانوته وایو چی په ملامحمدعمر اخند کښی تاسو دغه دوه عیبه په گوته کوي یو داچی دی په یوه سترگه معیوب دی داخو څکه د فخر خبره ده چی دا سترگه یی جهاد فی سبیل الله کښی له لاسه ورکړی ده او جهادفی سبیل الله کښی د جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم مبارکه گوته څه وخت چی داحد په غزا کښی وینه شوه نووی فرمایل:

ماانتِ الأ اصبع دمیتِ – وفی سبیل الله مالقیت

ولیّ د اسلام دلوی فاتح حضرت احنف بن قیس(رح) سترگه هم معیوبه وه چی نن دهغه له برکته تقریباً څوارلس سوه کاله د افغانستان مسلمانان د اسلام په لوي نعمت او سعادت مشرف شوي دي موږ له خدای(ج) څخه غواړو چی دغه د اسلام خادم د هغه مبارك تابعي مقتدی وگرځی چی افغانستان ته یی د اسلام امن او دوقار پیغام راوړی ؤ او د افغانستان د دربدرو او کړیدلو وگړو د زخمی زړونو دوا، دسترو ارمانونو خوږ تعبیر شي، سوچه اسلامي نظام او امن حاکم کړی لکه چی اوس یی په پنځولسو ولایاتو کښی د خپل توان په اندازه حاکم کړي دی. دغو تش په نامه پوهانو ته وایو چی تاسو دغه د مسجد له طالب او ملا سره چی کومه دښمني ده که د حقیقت چشمی واچوی نو دا ددوی قصور ندی بلکی دا ستاسو له هغه دین سره دبدی نتیجه ده چی جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپلو شاگردانو صحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم ته سودلی ؤ هغوی بیا خپلو شاگردانو تابعینو رحمه الله تعالی عنهم او هغوی بیا خپلو پیروانو تبع تابعینو او مجتهدینو امامانو رحمه الله تعالی علیهم سودلی و. داسی ښکاري چی ستاسو دښمني بوازي د مسجد له ملا او طالب [illegible] بلکی له حضرت سیدنا امام اعظم [illegible] چی تابعی وو هم کرکه لری لکه خوارجیوه کوله په خولي خو د خط اصیل د اسلام د بشپړ نظام د نافذولو چیغی وهی مگر د څلورو کالو په موده کښی مو هغه عمل وکړ چی دافغانستان او نړی مسلمانان مو وشرمول اسلامي جهاد، اسلامي نظام مو بدنام او شهیدان(رح) مو په قبرونوکی خفه کړل ستاسی څیری مسلمان ملت ته پوره ښکاره دی په تاسی کی دهغو چاخوبونه دی چی هغه خوارجوته ورته دی د خوارجو په هکله نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي او حضرت علی کرم الله وایی: ماله نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دی چی فرمایل یی: په آخری زمانه کښی به دځوانانو یوه ډله راڅرگنده شی دنوو عمرونو او دکمو عقلونو خښتان به وي خپل استدلال به په قرآن عظیم الشأن او په بل روایت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کوي خو دوی به تش دخولی مسلمانان وی ایمان به یی له ستونی څخه نه ښکته کیږي، له دین څخه به داسی ووزی لکه غشی چی له کمانه څخه او یامرمی چی له ټوپك څخه ووزی یعنی دوی به داسی له دین څخه ووزی لکه څرنگه چی ننوتلی وی هغسی په تیزی به ووزی او ددین به پری هیڅ اثر نه وی نبی کریم صلی الله ددی صفاتو لرونکو کسانو د وژلو امر فرمایلی دی او وژونکی یی ماجور بللی دی ځکه چی دوی ساعی بالفساد دی لدی امله چی خوارج په زمکه د الله تعالی کی د فساد غوښتونکی وو، محدثینو کرامو خوارج ددی حدیث مصداق گرځولی دی د حضرت سیدنا علی (رض) څخه د خوارجو په برخه کښی پوښتنه وشوه چی آیا دغه خلك کافر دی؟، دوی ورته په ځواب کښی وفرمایل نه! دوی له کفره څخه تښتیدلی دی بیاترینه پوښتنه وشوه آیا دوی منافقین دی؟ هغه ورته وفرمایل نه! منافقین خدای(ج) لږ یادوی دوی صبا او بیگاه دخدای(ج) په ذکر بوخت دی نو ترینه پوښتنه وشوه: دوی څوك دی؟ هغه ورته په ځواب کښی وفرمایل: قومٌ اصابتهم فتنة نعموا و صحوا. دوی په فتنه کښی ډوب شوي دی نو فتنی ړانده او کاڼه کړي دي.

متفق علیه مشکوة المصابیح رقم الحدیث ۳۵۳۵ مرقاة طبع بیروت ص ۱۰۱ ج – ۷ طیبی ص ۱۰۰ ج – ۷ طبع کراچی.

(نور بیا)

ملی گرایی در خدمت ...

وگناهان بزرگ گردیده بود محدودیت وضع قاید، بر راهبان و اربابان کلیسا نسبت گناهان بزرگ، بزرگ میشد.

(سینت جروم) میگوید: در مقابل عیش پرستی اربابان کلیسا، عیش پرستی امراء و سرمایداران شرمنده و خجل میگردید.

مقابله میان اربابان کلیسا و زمامداران حکومت

در قرن ۱۱ عیسوی میان اربابان کلیسا و حکومت جنگ و جنجالی رخ داد و به سرعت شدت کسب کرد، در ابتداء اربابان کلیسا برحکومت غالب آمدند، و بر قدرت کلیسا افزوده گردید، و این مخالفتها ادامه پیدا کرد، گاهی کلیسا و مرتبی حکومت برتری حاصل میکرد، و درمراحل آخری کامیابی نصیب حکومت گردید، و در این میان مردم زجر های زیادی را متحمل گردیدند.

کلیسا ازقدرت‌واختیارات‌خوداستفاده غیرانسانی‌میکرد:

در قرون وسطی پاپ صاحب قدرتی بود که شاهان رومی از آن مستثنی نبودند. آنها به خیلی آسانی میتوانستند که اروپا را بطرف ترقی و تمدن گامزن قایند اما اوشان ازقدرت خود استفاده ناشایسته برده در پی استحکام پایه های قدرت شخصی خود شدند و اروپا بی هم در جهالت و تاریکی باقی ماند. فقر، افلاس، بیماری، جهل و ناتوانایی همه اروپا را تحت فشار شدید خود قرار داده بود.

* کتابهای مقدس به‌تحریف‌مواجه‌شدند:

اربابان کلیسا که محافظین دین بودند به دست خود(تیشه به ریشه، دین زدند) طوریکه: اوشان در کتابهای مقدس خود نظریات جغرافیایی وعلوم طبیعی را جای دادند تا از اینطریق به بزرگی و عظمت کتابهای خود بیافزایند ، اما نتیجه برعکس آن شد، زیرا نظریات که اوشان درکتب خود جای داده بودند با گذشت زمان حیثیت و واقعیت علمی خود را ز دست میداد و اربابان کلیسا در مورد آن نظریات داخل شده در کتب مقدس به اندازه یی تبلیغ کرده بودند که آن نظریات جزء عقیده، دینی آسانی برای مردم معرفی شده بود، و حتی انکار آن کفر پنداشته میشد و بر آن جغرافیا، جغرافیای(مسیحیت) نام گذاشته بودند در حالیکه تجربیات علمی و انکشافات علوم طبیعی بعدی آن نظریات را غیر علمی پنداشته رد میکرد.

کشمکش اربابان کلیسا و دانشمندان علوم‌طبیعی:

دانشمندان علوم طبیعی نظریات بی اساسیکه پیرامون جغرافیا، تاریخ، و طبیعت در کتب مقدس جای داده شده بود آنرا رد کردند، و نظریات جدید خود را پیرامون جغرافیا، علوم طبیعی، بصراحت اعلان داشتند که بر اربابان کلیسا ناگوار تمام شد چون آنها صاحبان قدرت بودند بر دانشمندان علوم طبیعی حکم کفر صادر کرده ، آنها را (ملحد) دانستند، مال و سر آنها را برای مسیحیان روا پنداشتند و محاکمی بنام محاکمه و آزار دانشمندان علوم طبیعی و مخالفین کلیسا بنام محاکم(تفتیش عقاید) بمیان آمد، در محاکم مرتکب بزرترین اعمال ضد بشري و انساني شدند، تقریبا ۳۲ هزار نفر را تنها زنده سوختاندند که درجمله اوشان ستاره شناس مشهور و دانشمند علوم طبیعی (برنو) هم شامل بود، گناه آن این بود که : بجز از کره، زمین به موجودیت سایر کرات هم معتقد بود.

بغاوت‌روشن‌فکران‌علیه‌مذهب:

حوصله روشن فکران که از انکشافات علوم طبیعی متأثر شده بودند علیه اربابان کلیسا و محاکم (تفتیش عقاید) آنها بسرآمد و دست به بغاوت زدند، به اندازه نی از اعمال زشت و ظالمانه، اربابان کلیسا بستوه آمده بودند که از همه عقاید، علم، اخلاق، گفتار و کرداریکه به کلیسا و مذهب نسبت میشد خوب بود ویا بد روي گشتاندند و یکسره کلیسا ومذهب را خیر باد گفتند. در آغاز تنها در دلها وافکار شان علیه مذهب عیسویت نفرت و انزجار پیدا شده بود رفته رفته متأسفانه مقابل همه مذاهب احساسات منفي و دشمني در آنها تولید گردید که به هیچ صورت با واقعیت و حقیقت همکنار نبوده، و بزرگترین انحراف دانشمندان و روشنفکران از واقعیتهای زندگی اجتماعی پنداشته میشد که بدترین تراژیدی اخلاقی بشری را در دنبال داشت و از این رهگذر خیانت روشنفکران علیه تمدن بشري و جامعه، انسانیت ازاربابان منحرف کلیسا کم نبود.

جنگی که در آغاز بین دانشمندان اصالت عقل، و علوم طبیعی و بین اربابان مذهب عیسویت (مذهب سنت پال) درگرفته بود، در نتیجه شکل جنگ میان(علم و دین) را اختیار کرد، روشن فکران احساس کردند که مذهب و علم ضد هم بوده و آشتی و نزدیکی میان آنها هیچگاه آمده نمیتواند، وفاداری با علم ایجاب مینماید که با دین وداع باید گفت.

بی حوصله گی وکج روی روشنفکران:

مجدد پسندان روشنفکر دارای اینقدر صبر و حوصله ، غور و سنجش، تحقیق و کوشش نبودند که میان اصل دین و واقعیت آن و میان انحرافاتیکه در آن جای داده شده بود، فرق قایل شوند نظر و قضاوت خود را مبنی برحقایق و واقعیت استوار سازند و میان قاینده گان کاذب و منحرف دین و میان اصل دین تمیز قایند، بلکه به اصطلاح همه را بیك چشم دیدند(میان حق و باطل و میان صحیح و سقیم) فرق کرده نتوانستند و با روی تعصب و عقده یی که در مقابل اربابان ظالم کلیسا به اوشان پیدا شده بود این حوصله را برای اوشان قاینده بود که صحت و سقم موضوع را تمیز کنند، لذا هر نوع روحیه آشتی را با دین از اوشان سلب نموده به کج روی وادار شان ساخت.

غلبه‌عام‌وتام‌مادیت:

در نتیجه ضعف و انحطاط روحیه دینی و مذهبی و رقابتهاییکه میان اربابان کلیسا و روشن فکران و مجدد پسندان غرب به میان آمد، مسیر زندگی شخصی واجتماعی اروپاییانرا بطرف یك زندگی مکمل مادی کشانید و این یگانه بلای بود که از آن هراس میرفت، بر افکار، نظریات، خواهشات نفسانی، ذهنیت، اخلاق، علم، ادب، حکومت، سیاست، همه وهمه جوانب حیات مادی و معنوی، فردي واجتماعي ماديت غالب و مسلط گردید.

در آغاز این حرکت سست و بطی بود، اما وقتیکه اروپاییها با قوت وعزم راسخ توجه خود را بطرف مادیت کشاندند و دانشمندان علوم فلسفی و طبیعی آنها تحقیق و تشریح کائنات و طبیعت را بشکل مادی و میخانیکی آن کردند، جنبه های روحانی و معنوی، مسئله را یکسره نادیده گرفتند تو گویی که کائنات اصلاً خالق ندارد - نعوذ بالله منه- به وسعت و سرعت این تحریك مادی و الحادي افزوده شده تمام جهانرا اثرات شوم و بد آن فرا گرفت.

میکاویلی وجدایی‌دین‌ازسیاست:

دانشمندان علوم سیاست امثال(میکاویلی) برای اولین بار دعوت جدایی دین از سیاست را عنوان کردند و اخلاق را در دو نوع گفتند. الف: اخلاق شخصی، ب: اخلاق دولتی.

افزودند: اگر برای مذهب ضرورت باشد تنها در مسایل فردی و شخصی باشد و نباید در مسایل اجتماعی و سیاسی به آن دخل داد. حکومت و سیاست از هر چیز گرده مقدم و با ارزش است، علاقه و ارتباط مذهب عیسویت همرای یك زندگی دیگر میباشد(آخرت) و همرای زنده گی اجتماعی ما سر و کارش نیست.

دعوت دانشمندان امثال میکاویلی که مبتنی بر جدایی سیاست از دین بود، به طور همه جانبه مؤثر و کامیاب واقع گردید، وطن دوستی و قومیت که جای مذهب سابقه را گرفته بود در راه این دعوت الحادی پوره معاون ثابت شد. زندگی غربی قرن ۱۹ و ۲۰ یك شکل از زنده گی جاهلی یونانیان و رومیان بت پرست را به توجه خاص به میان آورد، نقش و تأثیر یونانیان و رومیانرا که مذهب عیسویت و عیسویهای غربی کاسته بود، نقاشان قرن ۱۹ باز درخشان و فعالش ساختند، این سخن و پیش آمد قابل تعجب نیست زیرا قومهای فعلي غرب وارثان اصلی و واقعي همان رومیان و یونانیان قدیم میباشد، در تمدن فعلی و تمدن سابقه(یونان و روم) خیلی یگانگی و نزدیکی دیده میشود، که وجه اشتراکی عمده، و مهم هردو تمدنها را (مادیت) تشکیل میدهد، حتی زندگی مذهبی و روحانی فعلی اروپا از کیفیت روحانی و باطنی همچنان بی بهره و عاری است مثل زنده گی مذهبی یونان و روم.

په کندهار کې د راغونډو شویو علماوو، سید حفیظ الله آغا د شریعت اونیزې خبریال سره په مرکه کې:

د افغانستان مسلمان ملت دومره زیاتې قربانۍ د اسلامي شریعت د پلي کولو لپاره ورکړي دي

پوښتنه: دلته چې د تحریک د مرکزي شورى او عالي شوری په بلنه د افغانستان علمای کرام په ښار شمیر کې راغونډ شوي دي، هغه د څېنو ولایتونو دي او که د ټول افغانستان نه راغلي دي؟

ځواب: په دغه لویه غونډه کې د ګډون لپاره د افغانستان له ټولو ولایتونو څخه هغه علمای کرام رابللي شوي دي چې جید علماء دي او حساب وربانده کیږي.

پوښتنه: ستاسو په فکر به د علماوو کرامو دغه غونډه کوم مثبت نتایج ورکړي؟

ځواب: انشاء الله تعالی چې د علماوو کرامو دغه غونډه به د بې ګناه او مظلوم ملت د ژغورنې او نجات لپاره په زړه پورې نتیجې ورکړي، یو خو به د ټول ملت پام هغې خواته واوړي چې علما او استاذان یې چیرې غونډیږي، بل به دا خبره جرته شي چې ۹۰٪ د طالبانو د اسلامي تحریک حق تحریک ته وایي نو په دومره غټ شمیر کې به علمای کرام کله راغونډ شوي وو.

پوښتنه: تاسو د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت لپاره څه پیغام لرئ؟

ځواب: زه له خپل مسلمان ملت نه دا غواړم چې د طالبانو د اسلامي تحریک په ملاتړ کې نه په خپل سر او نه په خپل مال صرفه وکړي ترڅو په افغانستان کې یو حقیقي اسلامي حکومت راشي. او بیا ټولې نړۍ ته اسلامي نظام خپور او مسلمانان د شرق او غرب له ظلمونو نه وژغورل شي. دا غوښتنه ځکه ورڅخه کوم چې دوی څومره جهادونه وکړل او څومره غټې قربانۍ یې وکړې هغه ددغه لوی مقصد لپاره وې؛ اوس نو ددغه مقصد تر لاسه کولو لپاره د طالبانو اسلامي تحریک یوازینی وسیله ده.

په لوګر او میدان ښار کې...

میدان ښار کښې د طالبانو د قوماندانانو تر منځ په نښته کښې یو شمیر مړي شوي داسې وویل:

زه تېره ورځ لوګر کښې وم په لوګر او میدان ښار کښې وضع ارامه ده دطالبانو تر منځ د جګړو خبرونه بنیاد نه لري دا ټول خبرونه د دښمن ناوړه تبلیغات دي او یو لړ اخبارونه یې هم تر تاثیر لاندې راځي او بې مسؤلیته خبرونې کوي.

دغه راز څو ورځې وړاندې ما د میدان ښار له څښتن سیمونه لیدنه وکړه هلته هم وضع ارامه ده د جګړو او چاودنې خبرونه کوم اساس نه لري.

دغه ټول په درواغو ولاړ خبرونه دکابل اداره خپروي ترڅو وکولای شي چې د خلکو ذهنونو ته او تشویش ورته پیدا کړي. او خپلو مې ژواندو ټپیکوالو ته د لږ شیبې د پاره مورال ورکړي.

دغه راز حنیفي صاحب د یوې بلې پوښتنې په ځواب کښې وویل: طالبان د لوګر او میدان ښار د جګړې په دواړو لوریو کرېښو کښې ددښمن د برېدونو د مخ نیوي او تابېدولو په خاطر په ځان تیارولو بوخت دي.

حنیفي صاحب دیوې بلې پوښتنې په ځواب کښې وویل: په کابل ښار تراوسه د طالبانو لخوا برید نه دی شوي دا دکابل اداره ده چې د طالبانو په اړو او دسیسې په خلکو تیغ په تیغ بریدونه کوي. دغه راز دحنیفي صاحب ددې پوښتنې چې د حزب او شوری نظار ائتلاف به د طالبانو په وړاندې مشکلات زیات نه کړي؟ وویل:

حزب او شورای نظار که څه هم سره کښېني او جګړې خو د اتحاد امکان یې ډیر کم دی ځکه یوله بل څخه یې په زړګونو مړي کړي د جهاد په ټوله موده کښې یې خپل منځي جګړې تودې ساتلې او د کمونستانو له منځه تلو وروسته د جګړو اصلي باعث او مسئول حزب او شورای نظار دی او دا چې طالبانو ته به مشکلات زیات کړي او که نه. طالبان د خدای په مرسته د خدای د قانون د جاري کولو د پاره راولاړ شوي نو د څښتن خدای(ج) مرسته د طالبانو سره ده.

په کندهار کې د هیواد...

وخت کې ستاسو مشورو ته زیات ضرورت لرو او په دې اړه ستاسو همکارۍ ته ډیر اړ یو.

ملا محمد عمر آخند وویل: ځینې خلک پوښتنه کوي چې ستاسو هدف څه دی، نو زه په دې باندې ډیر افسوس کوم چې یو شمیر پړه کسان له موږ څخه دغه شان پوښتنې کوي حال دا چې زمونږ هدف لکه د لمر په شان ښکاره دي او هرچاته معلوم دي. خو بیا هم زه وایم چې زمونږ هدف په رواښو حالاتو کې د ظلم او ناروا پای ته رسول دي. په هیواد کې د خدایي نظام راوستل دي د کوم نظام لپاره چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم رالیږل شوی و، بیا صحابه کرامو پخپل ژوند کې پرې عمل کړی و او هم پرون اتلس لکه افغانانو د هغه د حاکمیت لپاره خپله وینه ورکړه، نو زمونږ هدف یوازې او یوازې د اسلام لپاره کوښښ او په واقعي توګه د قرآن او سنت تطبیقول دي او بس.

د ملامحمد عمر آخند له وینا وروسته ملا محمد رباني دغې تاریخي غونډې ته په خطاب کې په افغانستان باندې د روسانو یرغل وښانده او د هغو په مقابل کې یې د مجاهدینو کارنامې بیان کړې، ده وویل: د افغانستان مسلمان او با شهامته ملت په ډیر اخلاص د روسانو په مقابل کې ودرید، د هغوي ټول ظلمونه یې وزغمل، هر ډول قرباني یې ورکړې، خپل ځانونه او خپل اولادونه یې قربان کړل، خپلې ځمکې، کورونه او جایدادونه یې پریښودل، په ګاونډیو هیوادونو کې یې د خیمې ژوند غوره کړ خو د کفر منلو ته یې غاړه کېښنښوده، مهربان خدای (ج) پرې خپل رحم وکړ، [illegible] هجرت په دیار کې [illegible]

ملامحمد [illegible] زمونږ مجاهد ملت [illegible] د هغوي مزدوروانو ته ماتې [illegible] دښمن یې راوبرزاوه او قدرت یې موږ ته وسپاره، خو متأسفانه تاسو ولیدل چې بیا زمونږ رهبرانو د الله شکر څنګه ادا کړ؟ د شهیدانو ارمانونه یې څنګه پوره کړل؟ دیتیمانو، کونډو، او یورو، اوښکې یې څنګه پاکې کړې؟ دوي ددې پر ځای چې د افغانستان مجاهد ملت ته د قهرماني او سربښتنی میډالونه ورکړي یو ځل بیا یې په یوه داسې تباه کوونکې جګړه کې راښکیل کړ چې نتایج یې ستاسو په مخ کې پراته دي. ده زیاته کړه: د طالبانو تحریک ددې لپاره پیل شو چې د افغانستان د خلکو دغه دردونه کم کړي او بدبختۍ پای ته ورسوي، تاسوته معلومه ده چې د اختلافاتو له امله د هیواد حالات دې حد ته ورسیدل چې د جهاد ثمره یې له منځه یوړه، داسې وحشت پیل شو چې چاپې اټکل هم نه شو کولای، د انسان مرګ دیوه چرګ له مرګ څخه هم ورته بې اهمیته شو، د مسلمان مال یې غنیمت ویاله او دمال څښتان به په دې خوشحاله و چې له وژلو یې پریښودلو، خو کله به داسې هم ډیره پیښیدله چې دمال اخیستلو سره به یې دهغه ژوند هم ختم کړ، خو الحمد الله له کومې ورځې چې د طالبانو تحریک پیل شوي دي تر اوسه پورې له نیمایي څخه په زیات افغانستان کې شریعت نافذ دی خلك په ارامۍ سره د خپل ورځني ژوند چارې پرمخ بیایي. دطالبانو د تحریک له برکته اوس په هغو سیمو کې هم څه نا څه نسبي ارامي راغلې ده چې د طالبانو له کنترول څخه دباندې دي او هغه وحشتونه چې پخوا کیدل اوس کم شوي دي.

ملامحمدرباني له علماء کرامو څخه د بشپړې همکارۍ غوښتنه وکړه او وې ویل چې که تاسو په اخلاص او صداقت کار ونه کړئ او که په افغانستان کې اسلام او اسلامي نظام له منځه ولاړ، نو مسؤلیت به یې زمونږ او ستاسو د ټولو په غاړه وي، دغه تحریک په ستاسو د مشورو په رڼا کې پر مخ ځي او زمونږ راتلونکې تګ لاره هم ستاسو په لاس کې ده، نو اوس تاسو په دې اړه غور وکړئ چې دغه دردیدلی ملت څنګه له دغه کړاو څخه وژغورل شي.

تر ده وروسته د بدخشان د ولایت یو تن عالم مولوي محبوب الله بدخشاني غونډې ته په خطاب کې وویل: دا تحریک په افغانستان کې د ظلم، بربریت او وحشت د له منځه وړلو او د اسلامي نظام د تنفیذ لپاره پیل شوي او الحمد الله همدا اوس تر نیمایي زیات افغانستان د طالبانو په لاس کې دي، خو هغه پاتې افغانستان چې په کومو مشکلاتو کې راګیر دي باید موږ ټول په اخلاص د هغو له منځه وړلو لپاره کار وکړو.

مولوي محبوب الله بدخشاني وویل: دا زمونږ وظیفه ده چې د افغانستان مجاهد ملت له دغه کړاونه وژغورو، د هیواد د شمال په اړه باید ووایم چې د بدخشان په ګډون د هیواد دشمالي سیمو خلك ټول د طالبانو له اسلامي غورځنګ سره ملګري او د دوي ورتګ ته سترګې په لاره دي، کومې سیمې چې د کابل د ادارې په لاس کې دي ځوانان په زور نیول کیږي او له طالبانو سره د جنګ په غرض یې لیږي، خو که څوك وتښتي نو په کورنۍ یې دومره زیاته جریمه لګوي چې دتادیه کولو توان یې نه لري.

ده وویل: زما په نظر که ټول علماء او مخلص مجاهدین په صداقت او اخلاص کار وکړي، پر ځان باندې څه نا څه تکلیف و مني امید دی چې ټول هیواد به له دغو مشکلاتو څخه خلاص کړي.

په پای کې مولوي سید رحمن د جهاد ځینې واقعات بیان کړل او بیایې د غونډې د برخه والو پام هغو ظلمونو ته راواړاوه چې د هیواد له خلکو سره وشول، ده وویل: ځینو مشرانو داسې کارونه وکړل چې د اسلام په تاریخ کې یې مثال څوك نه شي ښودلای د افغانستان مجاهد ملت یې په یو او بل نامه پخپلو کې وجنګول او دنیا او آخرت یې دواړه خراب کړل، د افغانانو تاریخ یې وشرماوه، پر هغه چا یې تورونه ولګول چې پرون یې مخلص مسلمانان بلل، موږ پوهیږو چې داخلك له خدای(ج) او دهغه له مخلوق څخه ولې حیا نه کوي؟ ولې د ملت مشکلات په پام کې نه نیسي؟ ولې یې د جهاد اهداف تر پښو لاندې کړل؟ د افغانستان مجاهد ملت یې دازادۍ ترلاسه کولو وروسته ولې بیا غلام کړ؟

ده وویل: د طالبانو تحریک ددې لپاره پیل شوی چې د خپلواك افغانستان نیك نوم بیا راژوندی کړي، ټوله علماء کرامو څخه زمونږ هیله داده چې په یووالي او وحدت دغه تحریک پرمخ بوزي، په طالبانوکې چې کومه تقوی او پاکي موجوده ده داټول ستاسو برکت دي.

ده دخپلو خبرو په پای کې وویل: کله چیرې د طالبانو د تحریک په باب روایو چې عمري عدالت یې بیا راوستی دي ځای په ولري، ځکه همدا اوس چې په لویو لارو او دکندهار په ښارکې کوم مثبت بدلونونه ګورم له خوشحالۍ نه مې له سترګو څخه اوښکې روانې شي، نو دوعا کوم چې الله (جل جلاله) دې دا نظام په ټول افغانستان کې واکمن وګرځوي.

غونډې ته د مزار شریف مولوي عبدالجبار او د ننګرهار د ولایت محترم ملا سید رسول هم خبرې وکړې.

ملا سید رسول د خپلې وینا په یوه برخه کې وویل: موږ باید د طالبانو سیاسي نظامي، اجتماعي او نورو ټولو اړخونو ته پاملرنه ولرو، هیڅ مخالف قوت او دښمن ته ددې اجازه ورنه کړو چې زمونږ په منځ کې رخنه پیدا کړي او زمونږ له غفلت څخه ناوړه استفاده وکړي، که موږ ټول حالات او شرایط تر نظر لاندې ونیسو لکه څنګه چې دغه اسلامي تحریک په ډیر لږ وخت کې زیات بریالیتوبونه ترلاسه کړل، دا په ډاډ سره ویلای شو چې د لوي خدای جل جلاله په مرسته به په ټول افغانستان کې اسلامي شریعت نافذ شي او بشپړ امنیت به رامنځ ته شي، غونډه د مازدیګر تر پنځو بجو پورې روانه وه په پای کې ددې ورځې غونډه د مرکزي شوری د رئیس محترم عبدالغفور سیلاني په دوعا پای ته ورسیده.

ربانی در سفر خود به ...

ملا عبدالجلیل آخند افزودند استاد ربانی آن نقش را در افغانستان بازی میکند که قبل از آن ببرك کارمل به نفع روسها انجام میداد، زیرا ربانی درسفر اخیر خود به تاجکستان و ترکستان در اظهارات خود ثابت نمود که اندیوال روسها میباشد، در حالیکه روسها آن مردمی بودند که نه تنها افغانستان را همه جانبه تخریب نمودند بلکه عامل اصلی [illegible] واقعی مشکلات فعلی در کشور [illegible] میباشد.

ملاصاحب به ارتباط مذاکرات فعلی حزب و اداره، کابل گفتند که حالا مردم دانشمند و عالم افغانستان خود بگویند که تقویه همچون اداره بی چه معنی خواهد داشت؟ درکنار همچون اداره بی قرار گرفتن نه تنها که به نفع آن اداره غیر شرعی افرادی تنظیمی استعمال خواهند شد بلکه مشکل افغانستان را پیچیده تر می گرداند. ملاصاحب در قسمت دیگر از سخنان خود گفتند: روسها و هندوها میخواهند اداره، بی را در افغانستان به پای ایستاده نماید که اداره اسلامی نباشد.

په هرات کې...

په ولایت کې یې د پوره امنیت او دهرات دمسلمان او مجاهد ولس د هر ډول مرستې ډاډ ورکړ. ده زیاته کړه چې دهرات په ولایت کې د دښمنانو [illegible] ورکې شوی، په پای کې، د تحریک مشر د دوي له ښه نیت او نیکو خدمتونو څخه مننه وکړه او لازمه لارښوونه یې ورته وکړه.

په سرینګر کې...

وروسته هندي فوځ دغې سیمې ته راتلونکې ټولې لارې بندې کړې او په خلکو باندې یې د تګ او راتګ بندیز ولګول.

د هغې دورځې په سهار یې هغه کورته اور واچاوه او د شبیر «صدیقي» سره یې ۲۲ تنه مجاهدین چې یو هلك او دري ښځې هم په کې وې ژوندي وسوځل (انا لله...)

د هندوستان د حکومت دغه اقدام یو غیر انساني عمل دي چې د انساني حقوقو نه تیري او له مسلمانانو سره په د دوی جنایاتو او تاریخي دښمنۍ چې له مسلمانانو سره یې لري خپله به هندوانو څخه ګیله نه کوو، خومونږ، ګیله د نړۍ د مسلمانانو او په تیره بیا دکابل دګوډاګی اداری څخه ده چې هندوانو ته یې د دا ډول اعمالو جرئت ورکړي چې د افغانستان او کشمیر د مسلمانانو وینې تویول یې ورته ارزانه کړي دي.

د هرات امنیتي...

طالبانو د اسلامي تحریک سره هرډول مرستې کوي. او د تومورۍ ولایت خلك چه د اسلام دښمنانو ورته هر ډول تبلیغات کړي وو اوس پوهیدلي دي چې د طالبانو اسلامي تحریك د اسلام او هیواد د ژغورنې ریښتینی تحریك دي او غواړي چې د افغانستان کړیدلي او مظلوم ولس چې د ډیره وخته په سختو تکلیفونو کې ژوند کوي د سوکاله او آرامه ژوندانه خاوندان شي او هم دا چه زمونږ مسلمان ملت چې د اسلام مقدس دین لپاره یې څوارلس کاله جهاد کړي د اسلامي نظام په پلي کیدلو بریالي شي.

وروسته محترم احمدي صاحب د هرات ولایت د فرهنګي چارو په باب د امارت مقام ته ډاډ ورکړي او وې ویل چې مونږ په دې توانیدلي یو چې د خپلو نشراتو په واسطه مو د هرات ټول خلك د اسلامي تحریک د اهدافو څخه خبر کړي دي او پدې وسیله مو د دښمن هر ډول ناوړه تبلیغات ناکامه کړي او د خلکو ذهنیتونه مو جوړ کړي دي. په آخر کې محترم مشر د دوي د ښو خدماتو څخه مننه وکړه دوي ته یې لازم هدایات ورکړل او خپلو مسؤلیتونو ته یې متوجه کړل.

په خلکو کې د طالبانو

ته نژدې وه چې په افغانستان کې سیاسي قدرت کمونستانو د روسانو په مرسته ونیول او وروسته روسانو تیغ په تیغه خپل فوځونه افغانستان ته دننه کړل او په آزاد افغانستان باندې یې د ټولو بین المللي اصولو خلاف یرغل وکړ. هغه وو چې ده (ملامحمدشفیق اخند) له خپلو ملګرو سره د کفر په خلاف اسلامي جهاد پیل کړ. لومړي ده دحرکت انقلاب اسلامي افغانستان او بیا د مولوي صاحب خالص د اسلامي حزب د مجاهدینو په لیکو کې د قوماندان په توګه په جهاد بوخت وو چې د کمونستانو او روس استعمار تر بشپړې ماتې پورې له خپلو مجاهدینو سره ګډ دلوي خدای(ج) د رضا دپاره وجنګیدل.

وروسته له دې چې روسان مات شول او په افغانستان کې اسلامي دولت اعلان شو، دې او دده مجاهدین په دې هیله وو چې اسلام به نوریه ټول هیوادکې له شعارنه په عمل کې پلي کیږي، خو هغسې ونشول، اسلامي دولت یوازې څو شعارونه وو، او په عمل کې همهغه کمونیستي اداري وي، هغه اداري فساد او فحشا وه. په هیواد کې د جګړو او فسادونو اوورونه بل شول، د هیچا سر، مال او ناموس محفوظ پاتې نه وو. ده (ملا محمد شفیق اخند) له خپلو ملګرو سره ګډ د طالبانو د اسلامي تحریک د محترم مشر ملامحمدعمر مجاهد تر مشرۍ لاندې اسلام او د افغانستان مسلمانانو ته د نجات ورکولو په خاطر د پاټکوالو، قاتلانو، غلو او مفسدینو په خلاف جهاد پیل کړ چې تر اوسه یې دلوي خدای(جل جلاله) په فضل سره له نمایي نه دزیات افغانستان آزاد کړي خلك یې دامن او اسلامي نظام د عملي تطبیق په نعمت باندې ممنون کړي دي. د غزني ولایت په ټولو سیمو کې چې د طالبانو اسلامي تحریک تر تسلط لاندې دي بشپړه اسلامي شریعت نافذ دي او هر ډول بد کارونه او منهیات منع دي.

دیوې بلې پوښتنې په ځواب کې چې د غزني ولایت کومې اداري دوي تر اوسه پورې فعاله کړې دي؟ محترم والي صاحب وویل دلوي خدای (جل جلاله) په فضل دوي تر اوسه پورې ټولې اداري فعالې کړې او کارکوي لکه: مستوفیت، د امنیې قوماندانی، فرقه، ښاروالي، اطلاعات او کلتور، مخابرات، قضاء، برق او بریښنا، تعلیم او تربیه، عامه روغتیا، د ابولګولو او کرهنې ریاست، ارتباطات، ترانسپورت، حج او اوقاف، د عشر او ذکوة ریاست، انحصارات او د احتساب ریاست.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې تاسو خپل اقتصادي مشکلات څنګه حل کوئ؟ محترم والي صاحب وویل چې نژدې ۴۰ - ۵۰ په سلوکې د ولایت له عوائدو څخه حل کیږي لکه عشر او زکوة، د ښاروالي مالیات، ترانسپورت او دحق العبور عوائد، او د متباقي اړتیاوو د پوره کولو دپاره بودیجه د طالبانو د اسلامي تحریك له مرکز قندهار څخه ترلاسه کوي.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې د غزني ولایت امنیتي او نظامي وضع څنګه ده؟ محترم والي صاحب وویل: چې دلوي خدای په فضل په ولایت کې بشپړه امنیت تأمین دي،. په نظامي لحاظ د طالبانو اسلامي تحریك په ډیر مضبوط پوزیشن کې ده، له هیڅ خوا څخه د امنیتي او نظامي وضع د ګډوډولو خطر نشته، له اهل تشیع ورونو سره تماس موجود دي دکابل اداره په زیاته پیمانه پیسې توزیع کوي، خو د الله په فضل سره هیڅ ځای ورته نه نیسي. داسې هم پیښیږي چې اخستونکي د کابل اداری څخه اخستل شوي پیسې د طالبانو اسلامي تحریك ته سپاري او دکابل اداری په اعمالو باندې بد وایي، په خلکو کې د طالبانو اسلامي تحریك ډیر زیات محبوب دي، حتی هندوان او نور اهل ذمه د طالبانو د اسلامي تحریك سره زیاته مینه او اخلاص لري. ځکه ددوي سر، مال او ناموس محفوظ دي او د دوي عبادتي مرکزونه لکه درمسال فعال دي د خپل دین سره سم د عبادت کولو د پاره بیخي آزاد دي.

د تعلیم او تربیې په هکله دیوې پوښتنې په ځواب کې والي صاحب وویل: چې په ټولو ولسوالیوکې لومړنی زده کړې د دیني عالمانو او دتحریك د مخلصینو له خوا بې له معاشه ورکولی کیږي، په منځنیو ښوونځیو او لیسوکې هم چې تهاري وي استادان معاشات نه اخلي، البته په لیلیه ښونځیوکې استاداناوته پوځه اندازه معاش ورکول کیږي.

د عامې روغتیا په هکله والي صاحب وویل: چې د ولایت مرکزي روغتون د سره صلیب له خوا ترمیم شوي چې د ۳۶ تنه معاشات سور صلیب ورکوي او ۲۴ تنه معاش د طالبانو اسلامي تحریك په خپله ذمه باندې اخستې ده. د دوا د تهیې په هکله مرسته سور صلیب، بې سرحده ډاکتران او دسویډن کمیټه کوي. ولسوالیوته دوا د تحریك سره میاشت تهیه کوي او هم پوځه اندازه نغدي پیسې د دوا اخستلو دپاره ورکوي. په پای کې محترم والي صاحب د شریعت اونیزې نشرات ډیر ګټور د اسلام او مسلمانانو په نفع و بلل او چلونکوته یې دعا وکړه.

د پکتیکا ولایت د ګومل.

غونډه جوړه شوې وه چې په هغې کې د طالبانو د اسلامي تحریك مجاهدینو، علماوو او قومي مشرانو ګډون کړي و، په غونډه کې د ارګون ولسوال مولوي محمد ملنګیار او د صدارت عظمي پخواني مرستیال مولوي صاحب ارسلان رحماني هم ګډون کړي ؤ.

غونډه د قرآن عظیم د څو آیتونو په لوستلو پیل شوه وروسته علماوو کرامو هر یوه په خپل وار سره د غونډې برخه والو ته خپلې ګټورې وینا وې واوروولې او د طالبانو د اسلامي تحریك د مجاهدینو له نه ستړې کیدونکو هلو ځلو څخه یې مننه وکړه، دوي زیاته کړه چې په دغه مقدس جهاد کې به یو ځل بیا د سر او مال په قرباني سره برخه اخلو.

په پای کې د ګومل ولسوالي لپاره ټاکل شوي ولسوال خلکو ته ورو پیژندل شو او په خپله دنده یې پیل وکړ. غونډه په اختتامیه دعا سره پای ته ورسیده.

حکمتیار او رباني ائتلاف...

چې هغو شرعي بنه نه درلوده او په آینده پورې تړلې وې موږ ونشو کولاي د هغو سره څه موافقې ته ورسیږو، خو دا خبره د حکمتیار صیب لپاره کوم مناسب عذر نشي جوړیدی چه هغه دې د رباني سره ائتلاف وکړي. وریاند زیاته کړه:

موږ حکمتیار صیب ته په ډاګه کړه چې موږ هرګز لوټماران او قطاع الطریق پخپل څنګ کې نشو منلاي.

خبریال بیا پوښتنه وکړه چه ستاسو څخه حکمتیار څه غوښتنې لرلې؟ ملا خیر الله وویل: حکمتیار صیب له وخت څخه د مخه د ځینو پوښتنو غوښتنه کوله او بعضي داسې وړاندیزونه یې لرل چې هغو د شریعت په چوکاټ کې هیڅ ځاي نه درلود نو ځکه موږ د هغه غوښتنې و نه منلې.

د خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې چه دا ډول ائتلاف به څه نتایج ولري ملا صاحب وویل: داسې ائتلافونه لا ډیر پخوا تجربه شوي او موږ مطمئن یو چه هغه به هرګز هم د ملت ملاتړ تر لاسه نکړي بلکه ملت باید دله هغوي سره د تیرو څلورو کلونو د ناوړه جنګ جګړو چه زمونږ د ډیرو وطنوالو د شهادت او هجرت باعث وګرځیدل، حساب وکړي او پوښتنه تری وکړي.

خبریال پوښتنه وکړه چې آیا دا ائتلاف به د هیواد په روانه وضعه څه اغیزه ولري؟ ملا صاحب وویل: څرنګه چه حکمتیار او رباني د دیني اصولو په اساس ائتلاف ندي کړي او د هغوي ائتلاف کومه شرعي او عقیدوي بنه نلري، نو موږ عقیده لرو چې دا ډول ائتلافونه به هیڅ اغیزه ونلري.

د غونډې برخوالو...

حاجي نادر ، حاجي سیف الله، حاجي محمود او د محترم مولوي صاحب جلال الدین حقاني ورور محترم حاجي جلیل الرحمن او ځینې نورو مشرانو او د کوچیانو د قوم مشرانو محترم حاجي محمد نعیم، حاجي شیر عالم، او حاجي شیرخان او د منګلو د قوم مشرانو محترم حاجي محمد وزیر او حاجي موسی جان، د تڼیو د قوم حاجي میر بهادر حاجي یعقوب ، حمید الله او مولوي عبدالحکیم شرعي برخه اخیستې وه.

خبر ځاي زیاتوي چې محترمو مشرانو په خپل وار سره خپلې عالمانه وینااوې د غونډې برخه والو ته واورولې او د اسلامي تحریک سره یې خپل هر ډول ملاتړ په ډاګه کړ، او د وطن دښمنان یې په خپلو وینا ګانو کې وغندل. د غونډې په پای کې پریکړه وشوه چې که هرڅوك غواړي چې د خوست ولایت امنیتي وضعه خرابه کړي او پدې لاره کې څه اقدام وکړي، د طالبانو د اسلامي تحریک سره به په ګډه د خوست ټول قومونه د دښمنانو په خلاف د خوست دفاع وکړي.

غونډه په هیواد کې د یوې سرتاسري صلحې او اسلامي نظام د رامنځته کیدلو په دعا پای ته ورسیده.

افغانان عقل او اسلامیت لري...

کله چې د نجیب حکومت ړنګ شو او په ځای یې دکمونستانو او تنظیمونو ګډ حکومت جوړ شو نو له دې امله چې له داسې حکومت څخه مو د خیر توقع نه لرله له کار نه بیکاري او په کور کیناستل راته بهتره ښکاره شول!

کوم وخت چې د طالبانو اسلامي تحریک د ملامحمدعمر اخوند ترقیادت لاندې منځ ته راغی نو بیرته مو له لومړۍ ورځې نه تر ننه پورې په دغه اسلامي خدمت کې برخه ورسره اخیستې ده. الله پاك دې ددغه مقدس تحریک په برکت زمونږ په اسلامي وطن کې اسلامي نظام پلي کړي. آمین.

۲- پوښتنه : دکابل په خوا وشا کې د اسلامي تحریک د مجاهدینو نظامي وضعیت څنګه دي؟

ځواب: د کابل په نظامي محاصره کې د طالبانو مورال ډیر لوړ دي، انشاء الله تعالی ډیر زربه د الله تعالی په کومك سره طالبان خپل مقدس هدف ته ورسیږي.

۳- پوښتنه: ویل کیږي چې د حکمتیار حزب او کابل اداری ائتلاف سره کړي دي او دحزب افراد کابل ته بیول شوي دي. آیا طالبانو په اسلامي تحریک باندې به په نظامي لحاظ څه اغیزه ولري؟

ځواب: د حزب او کابل اداری یووالي آوازه کوم ارزښت او اهمیت نه لري، ځکه چې د دوي یو والي بې بنسټه او لیرې خبره ده، دوي هر یو خپل پټ مقصدونه لري او دهغو لپاره یې _ افغانان د پښتو او فارسي، د ازبك او تاجك، د شیعه او سني په ډول ډول نامونو سره وجنګول، تباه یې کړل او دنیا او آخرت یې ورخراب کړل، یو له بله یې په لسها وو ښځې سره بې عزته کړې، کورونه او مالونه سره چوروکړل؛ سیاف به ویل چې زه د شوروپانو په جهاد باندې دومره د ثواب تمه نه لرم لکه څومره چې د هزاره ګانو د شیعه ګانو پر جنګ د ثواب تمه لرم! اوس شیعه ګان او سیاف په یوه موضع کې سره ناست دي او له طالبانو سره جنګیږي.

په افغانستان کې به خامخا مخلص مسلمانان سره یو صف کیږي. افغانان عقل او اسلامیت لري، په ناموس یې خوابدیږي خامخا به له طالبانو سره یو ځاي کیږي، د افغانستان دجوړولو لپاره به کار کوي اوله مفسدینو څخه به فاصله نیسي؛ ځکه اوس ټولو افغانانو ته معلومه شوې ده چې طالبان واقعاً د اخلاص وړنه او له تعصب نه پاکه ډله ده، دا نورې ډلې یوازې خپل ځانونه پیژني نور نو د ملت فکر او غم د اسلام غم ورسره نشته دي.

٤- پوښتنه : په کابل باندې د طالبانو د اسلامي تحریک دیرغل پروګرام شته او که نه؟ که وي نو بیاولې دومره وځنډیده؟

ځواب: طالبان زیار باسي چې دکابل موضوع ژرترژره حل او فصل شي تر څو مسلمانان له اوسنیو ربړو او ستونځو نه ژر تر ژره خلاص شي، ځکه اوس فعلاً په کابل کې د هیڅ مسلمان نه سر، نه مال او نه عزت په امن دي نو موږ د هغوي د خلاصون هلې ځلې کوو که په نظامي طریقه سره وي او که په اصلاحي طریقه سره وي؛ تراوسه پورې چې طالبان یوه خاص برغل ته چمتو نه وو هغه د ژمي د یخ او واورو له کبله ؤ اوس نو د یخ او واورومشکل حل دي انشاء الله طالبان به ژر د الله تعالی په نصرت او کومك سره کامیاب شي.

٥- پوښتنه: ایا کابل به ژر سقوط وکړي؟ که هوا وایاست نو دغه کاربه په جنګ سره وي او که په ارتباط سره؟

ځواب: کارونه خو ټول د الله جل جلاله په اراده سره کیږي، مونږ الله تعالی ته ځه لرو چې کابل ژر تر ژره د اسلامي تحریک دتیکاتو په لاس کې پریوزي، په دغه هکله موږ هم په نظامي لحاظ، انشاء الله تعالی، تیاری یو او هم مو ارتباط قوي دي.

٦- پوښتنه: ایا دکابل په داخل کې قوماندانان له تاسې سره ارتباط لري؟ ترڅو کابل په آسانی سره فتح شي.

ځواب: هوا د کابل ډیر قوماندانان داسې دي چې اسلامیت لري او دوطن په وران ویجاړ حال باندې خواشیني دي، هغه له موږ سره په ارتباط کې دي او دکابل مسئله به انشاء الله تعالی په اساني سره حل او فصل شي.

٧- پوښتنه: دکابل په اداره کې د بدخشانیانو او شورای نظارتر منځ ژور اختلاف موجود دي ایا تاسوله دغه اختلاف څخه څومره ګټه کړې ده؟

ځواب: هوا! د دوي تر منځ ډیر اختلاف موجود دي، هغه خلك چې اسلامیت لري او واقعي مجاهدین وو او په ګران افغانستان یې خوابدیږي هغوی له مسعود، سیاف او رباني سره ډیر زیات اختلاف لري او د دوي ناپاکې څېرې ورته ښکاره شوې دي چې د ملك او اسلام لپاره کارنه کوي او دبیګانه وودلاس آلې دي، هغوي کوښښ کوي چې له طالبانو سره یوځاي شي، ځکه هغوي اوس پوهیدلي دي چې طالبان واقعي مسلمانان دي، د اسلام او وطن لپاره کار کوي.

۸- پوښتنه: د طالبانو د اسلامي تحریک مجاهدینوته څه پیغام لرئ؟

ځواب: د تحریک مجاهدینوته وایو چې: دغه څوکارونه دکامیابی اسباب دي: تقوی او پرهیزګاري، د امر اطاعت، د نظم مراعات کول، له بیت المال سره احتیاط کول، له ټولو ګناهونو څخه لرې ګرزیدل، د الله تعالی له مخلوق سره ښه رویه کول، په مخلصو ملګرو باندې پوره اعتماد کول، او ترټولو د مخه خپل نیت خاص د الله تعالی درضا لپاره ګرزول؛

له ټولو ملګرو څخه غواړو او هیله کوو چې ددغو شپانو جدي مراعات وکړي، نو الله تعالی به مو په دنیا او آخرت کې بریالي او کامیاب کړي.

۹- پوښتنه: د شریعت اونیزې په هکله ستاسو تاثرات اومشوري څه دي؟

ځواب: د دنیا د جنګ په اصولو کې دایو مهم اصل دي چې د نظامي فعالیت ترڅنګ تبلیغاتي جنګ هم روان وي نو د خپل طرف معنویات او مورال اوچت او د ښمن د طرف مورال او معنویات په زمکه پریوزي، ستاسو د شریعت اونیزه انشاء الله تعالی په مسلمانانو باندې نیك تاثیر لري او مسلمانان خپلې وظیفې ته متوجه شوي دي. زمونږ مشوره داده چې شپه او ورځ په ځان یوه کړو او د الله دین شرق او غرب ته ورسوو که په نظامي توګه وي او که د تبلیغ له لارې وي،، خو نشرات د دعوت د لارې ډیره مؤثره وسیله ده.

بله مشوره داده چې ټول کارونه باید د شریعت په چوکاټ کې وکړو تر څو خلك موږ ته دروغجن ونه وایي.

د طالبانو اسلامي تحریک مشر د لویې پکتیا...

محترم مولوي عبدالرحیم بلالي، محترم مولوي عبدالقیوم، محترم مولوي عبدالله حقاني، محترم محمد الیاس او محترم مولوي احمد ګل روحاني، د طالبانو د اسلامي تحریك مشر ته د لیدنې په وخت کې د خپل حمایت او مرستې ډاډ ورکړ او ورسره یې د مولوي جلال الدین حقاني اطمینانیه پیغام واوروله او وې ویل چې مونږ د لویې پکتیا په څانګه کې لکه څنګه چې مو په شپاړلس کلن جهاد کې د روسانو او کمونستانو په مقابل کې قرباني ورکړې ده او بیا مو د تنظیمونو د خپل منځي جګړو په مقابل کې د الله تعالی مطابق په صلح کې د سر او مال قرباني ورکړه، همدارنګه د اسلام د خدمت کولو او په هیواد کې د یو اسلامي حکومت جوړولو او بشپړه امنیت راوستلو په خاطر د طالبانو د اسلامي تحریك سره د سر او مال قرباني ورکولو ته تیار یو.

محترم مشر د دوي د نیکو احساساتو څخه مننه وکړه او پدغه لاره کې یې د لوي خداي څخه ورته توفیق وغوښتل.

تومورې هیئت د طالبانو د اسلامي تحریك له مرستیال محترم ملا محمد رباني سره هم وکتل، او د طالبانو د اسلامي تحریك د فعالیتونو چې په هیواد کې یې امنیت رامینځ ته کړي او اسلامي شریعت یې پلې کړي ستاینه وکړه او په دې لړ کې یې د هر ډول مرستې کولو ژمنې وکړې.

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

SHARIAT WEEKLY
Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.
Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.
Tel : 840378
PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69.
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)
Peshawar, Pakistan

یادونه

بنایي ستاسو ایمان به اجازه در نکړي چې دا ډول سپیڅلي پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوي.

(اداره)